# د حضرت ايُوب کِتاب

## پیژندګلو

په دې کِتاب کښې مونږ د حضرت ايُوب عليه السلام ډېر تکليفونه مطالعه کوُو. کله چې مونږ سره څۀ بد کيږى نو مونږ دا اندازه نۀ شُو لګولے چې دا راسره ولې کيږى. کۀ حالات ښۀ وى او کۀ بد خو په هر حال کښې ايمان په خُدائ پاک پکار دے او د هغۀ رضا معلومول پکار ده چې په هغه وخت کښې خُدائ پاک زمونږ نه څۀ غواړى. خُدائ پاک تل د ايمان اجر ورکوى، کله کله په دې دُنيا کښې او همېشه په هغه بله دُنيا کښې اجر ورکوى. دا کِتاب په دينى لحاظ سره او په ادبى لحاظ سره يو بېمثاله کِتاب دے. د حضرت ايُوب په دې کِتاب کښې مونږ ګورو چې خُدائ پاک د دې اجازت ورکوى چې يو نيک او صالح انسان زيات تکليف وزغمى. د حضرت ايُوب عليه السلام د ايمان د امتحان اجازت خُدائ پاک ځکه ورکړو چې شيطان ورله چيلنج ورکړے وو. او په دې کښې مونږ د خُدائ پاک عظمت، لوئى او آسمانى حکمت وينو چې د دُنياوى حکمت نه ډېر اعلىٰ دے او دا چې د حضرت ايُوب عليه السلام د دوستانو په شان محدود نۀ دے. د ټولو تکليفونو باوجود حضرت ايُوب عليه السلام دا يقين لرلو چې خُدائ پاک ښۀ دے او يواځې په ايمان باندې قائم پاتې شو. په سخت مصيبت کښې هم هغۀ دا اعلان کولو چې زما يقين دے چې زما خلاصونکے ژوندے دے. په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آخره کښې خُدائ پاک ټولې خبرې په دې حقیقت ختمې
کړې چې صرف هغه هوښیار دے. خُدائ پاک د حضرت
ايُوب عليه السلام بهروسه او یقین صحیح ثابت کړو او مونږ
ګورو چې حقیقی ایمان هیڅکله تباه کېدے نۀ شی. ستاسو د
حفظ کولو دپاره ۱۹:۲۵ آیت "زما یقین دے چې زما
خلاصونکے ژوندے دے، او چې په آخر کښې به هغه د
زمکې دپاسه ودرېږی"

## حضرت ايُوب او د هغۀ خاندان

١ ۱ په یوه زمانه کښې د عُوض په مُلک کښې یو سړے
وو چې نوم یې ايُوب وو. دا یو بېداغه او نېک سړے وو، هغه
یو داسې کس وو چې د خُدائ پاک نه یرېدو او د بدئ نه یې
ځان ساتلو. ۲ د هغۀ اووۀ زامن او درې لونړه وې. ۳
هغۀ سره اووۀ زره ګډې، درې زره اوښان، د غوَیانو پینځۀ
سوه قلبې، پینځۀ سوه خرې وې او ډېر زیات نوکران یې وُو،
نو دے د مشرقی علاقې په خلقو کښې د ټولو نه زیات
مالداره وو. ۴ د هغۀ زامنو په خپلو کورونو کښې وار په
وار مېلمستیا کوله، او هغوئ به خپلو درې واړو خوېندو له
دعوت ورکولو چې د هغوئ سره خوراک څښاک وکړی.
۵ او کله به چې د مېلمستیا ورځ تېره شوه، نو ايُوب به
سحر وختی پاڅېدو او د هر یو بچی دپاره یې د ګناه نه د
پاکوالی سوزېدونکې نذرانه پېش کوله، ايُوب به همېشه دا کار
د دې دپاره کولو چې د هغۀ خیال وو چې کېدے شی چې
زما بچو ګناه کړې وی او په خپلو زړُونو کښې یې خُدائ پاک
ته بدرد وئیلی وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ايُوب په کردار حمله

٦ یو ځل آسمانی مخلوق راغلل چې خپل ځانونه د مالِک
خُدائ په مخکښې حاضر کړی او شېطان هم د هغوئ سره
راغلو. ٧ مالِک خُدائ شېطان ته وفرمائيل، ”تا څۀ کول؟“
نو شېطان مالِک خُدائ ته ووئيل، ”زۀ په دُنيا کښې ګرځېدم
راګرځېدم.“ ٨ نو مالِک خُدائ شېطان ته وفرمائيل، ”ستا
زما د خِدمت کوونکی ايُوب په باره کښې څۀ خيال دے؟
ګوره په دُنيا کښې د هغۀ په شان هيڅ څوک هم نشته، هغه يو
بېداغه او نېک سړے دے چې هغه د خُدائ پاک نه يرېږی
او د بدئ نه ځان ساتی.“ ٩ بيا شېطان مالِک خُدائ ته
ووئيل، ”آو، خو ايُوب په څۀ وجه د خُدائ پاک نه يرېږی؟
١٠ تا هميشه د هغۀ، د هغۀ د کور او د هغۀ د هر څۀ
حِفاظت کړے دے، تا هغۀ له په هر کار کښې برکت ورکړے
دے او په دې مُلک کښې تا هغۀ له بې‌شمېره رَمې ورکړې
دی. ١١ خو کۀ تۀ اوس د هغۀ نه هغه هر څۀ واخلې نو هغه
به ستا په حضور کښې په تا لعنت ووائی.“ ١٢ نو مالِک
خُدائ شېطان ته وفرمائيل، ”بلکل ټيک ده د هغۀ سره چې هر
څۀ دی هغه ستا په اختيار کښې دی، خو چې هغه تباه نۀ
کړې.“ نو شېطان د مالِک خُدائ د حضور نه لاړو.

## د حضرت ايُوب د بچو او د جائيداد ختمېدل

١٣ يوه ورځ چې د هغۀ زامنو او لوڼو د خپل مشر ورور په
کور کښې روټئ خوړله او مے يې څښل، ١٤ نو يو پېغام
وړونکے ايُوب له راغلو او ورته يې ووئيل، ”غوَيانو يوې کولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خرې يې په څنګ کښې څرېدلې، ۱۵ او د سبائيانو څۀ
خلقو حمله وکړه او څاروی يې بوتلل او نوکران يې په تُوره
ووژل، يواځې زۀ ژوندے پاتې يم چې تا خبر کړم.“ ۱۶ هغۀ
لا خبرې ختمې کړې نۀ وې چې يو بل کس راغلو او وې
وئيل، ”د خُدائ پاک تندر د آسمان نه راوغورزېدو او ګډې او
نوکران يې وسوزول او هلاک يې کړل، يواځې زۀ ژوندے يم
چې تا خبر کړم.“ ۱۷ کله چې هغۀ لا خبرې کولې، نو يو بل
کس راغلو او وې وئيل، ”کسديانو درې قبيلې جوړې کړې،
او حمله يې وکړه او اوښان يې بوتلل او نوکران يې په تُوره
باندې ووژل، يواځې زۀ ژوندے پاتې يم چې تا خبر کړم.“ ۱۸
کله چې هغۀ لا خبرې کولې، نو يو بل کس راغلو او وې وئيل،
”ستا زامنو او لوڼو د خپل مشر ورور په کور کښې خوراک
څښاک کولو، ۱۹ چې ناڅاپه د صحرا د طرف نه يوه لويه
هوا راغله او دې هوا د کور څلور واړه ګوټونه وخوځول او
کور ستا په بچو باندې راوغورزېدو او هغوئ مړۀ شول،
يواځې زۀ ژوندے پاتې يم چې تا خبر کړم.“ ۲۰ نو بيا ايُوب
پاڅېدو، خپله چُوغه يې وشلوله، خپل سر يې کل کړو او په
زمکه باندې يې سجده ولګوله. ۲۱ هغۀ وفرمائيل، ”زۀ د مور
نه خالی لاسونه پېدا وم او خالی لاسونه به د دې دُنيا نه ځم،
هر څۀ ما له مالِک خُدائ راکړی وُو او مالِک خُدائ رانه
واپس واخستل، د مالِک خُدائ د نوم ثناء صِفت دې وی.“
۲۲ د دې هر څۀ باوجود ايُوب په خُدائ پاک د اِلزام لګولو
ګناه ونۀ کړه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شیطان په وسیله د حضرت ایُوب بیا آزمېښت کول

٢ ١ یو ځل آسمانی مخلوق راغلو چې خپل ځانونه د
مالِک خُدائ په مخکښې حاضر کړی او شیطان هم د هغوئ
سره راغلو. ٢ مالِک خُدائ شیطان ته وفرمائیل، ”تا څهٔ
کول؟“ نو شیطان ووئیل، ”زهٔ په زمکه ګرځېدم راګرځېدم.“
٣ نو مالِک خُدائ شیطان ته وفرمائیل، ”ستا زما د خِدمت
کوونکی ایُوب په باره کښې څهٔ خیال دے؟ په زمکه باندې د
هغهٔ په شان هیڅ څوک هم نشته، هغه یو بېداغه او نېک
سړے دے چې هغه د خُدائ پاک نه یرېږی او د بدئ نه ځان
ساتی. هغه تر اوسه پورې په خپل صداقت کښې قائم دے،
اګر چې تا زهٔ د هغهٔ خِلاف لمسولم، چې بغېر د څهٔ وجې نه
یې په غضب آخته کړم.“ ٤ بیا شیطان مالِک خُدائ ته
ووئیل، ”خلق د خپل ژوند بچ کولو دپاره هر څهٔ ورکوی. ٥
خو کهٔ د هغهٔ په بدن باندې تکلیف راولې، نو هغه به ستا په
حضور کښې په تا لعنت ووائی.“ ٦ نو مالِک خُدائ
شیطان ته وفرمائیل، ”بلکل ټیک ده هغه ستا په اختیار کښې
دے خو هغه ژوندے پرېږده.“ ٧ نو شیطان د مالِک خُدائ
د حضور نه لاړو او په ایُوب باندې یې د سر نه تر پښو پورې
خرابې دانې راوخېژولې. ٨ نو ایُوب د خاورې د مات
لوښی یوه ټوټه واخستله او ځان یې وربادنې ګرولو او په
ایرو باندې کښېناستو چې خپل خفګان څرګند کړی. ٩ نو
ایُوب ته خپلې ښځې ووئیل، ”تر اوسه پورې تهٔ لا په خپل
صداقت قائم یې؟ په خُدائ پاک لعنت ووایه او مړ شه.“ ١٠
خو هغهٔ خپلې ښځې ته وفرمائیل، ”تهٔ خو لکه د کم عقلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځې په شان خبرې کوې، ولې مونږ به د خُدائ د طرفه
صرف ښۀ څيزونه اخلو څۀ او هيڅکله به ترې نه بد نۀ
اخلو؟“ خو د دې ټولو خبرو باوجود ايُوب د خُدائ پاک
خِلاف يوه خبره هم ونۀ کړه.

## د ايُوب درې ملګرى

١١ نو چې کله د ايُوب درې ملګرى د هغه ټولو مصيبتونو نه
خبر شول کوم چې په ايُوب باندې راغلى وُو، نو هغوئ هر يو
د خپل خپل کور نه روان شول هغوئ په يو ځائ ايُوب له
ورغلل چې د تسلىٰ خبرې ورته وکړى. د هغوئ نومونه دا
دى، اليفز تيمانى، بِلداد شوحى، او ضوفر نعماتى. ١٢ کله
چې هغوئ ايُوب د لرې نه وليدلو، نو هغه د پيژندګلو نه وتے
وو خو چې کله يې وپيژندو نو په چغو چغو يې وژړل، هغوئ
د غم نه خپلې چُوغې وشلولې او په سر باندې يې خاورې
واچولې. ١٣ هغوئ د هغۀ سره په زمکه باندې اووۀ شپې او
اووۀ ورځې ناست وُو او يو کس هم هغۀ ته يوه خبره هم ونۀ
کړه، ځکه چې هغوئ ته پته وه چې د هغۀ تکليف ډير زيات
دے.

## د حضرت ايُوب د خپل پيدا کيدو په ورځ باندې لعنت وئيل

٣ ١ د هغې نه پس ايُوب خبرې شروع کړې او چې په
کومه ورځ باندې هغه پيدا شوے وو په هغې يې لعنت ووئيلو.
٢ ايُوب وفرمائيل، ٣ ”هغه ورځ دې تباه شى چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومه ورځ باندې زۀ پېدا شوے وم او چې په کومه شپه زۀ د
مور په ګېډه شوے وم نو هغه شپه دې لعنتی شی. ۴ هغه
ورځ دې تکه توره شی. لوئ خُدائ پاک دې پرې نظر نۀ
اچوی، او رڼا دې پرې نۀ راولی. ۵ توره دې شی او تکه
توره تیارۀ دې پرې راشی. ورېځې دې ورباندې پاتې شی، د
هغه ورځې تیارۀ دې دا ویروی. ۶ تکه توره تیارۀ دې هغه
شپه قابو کړی. هغه دې بیا هیڅکله د کال په ورځو کښې نۀ
شی شمېرلے او په یوه میاشت کښې دې هم حِساب نۀ کړے
شی. ۷ او هغه شپه دې شنډه شی، په هغه شپه کښې دې
هیڅ خوشحالی نۀ وی. ۸ لعنت ویونکی دې هم په هغه ورځ
لعنت ووائی، هغه څوک چې په سمندری بلاګانو راویښولو
کښې ماهِر وی. ۹ د دې د سحر ستوری دې تور شی، هغه
دې د رڼا په طمع وی، خو مِلاو دې ورته نۀ شی، دا دې په
سحر کښې د نمر شُغلې ونۀ وینی، ۱۰ لعنت دې وی په هغه
شپه چې زما د مور حمل یې کېدو ته پرېښودو، او زۀ یې د
دې ټولو مصیبتونو دپاره پېدا کړم. ۱۱ زۀ د پېدا کېدو په
وخت ولې مړ نۀ شوم، او د زیږېدنې په وخت مردار ولې نۀ
شوم؟ ۱۲ زۀ ولې د مور په غېږ کښې وم، هغې ولې ما له
سینه راکړې ده؟ ۱۳ کۀ زۀ مړ وے نو خاموش به وے، زۀ
به اودۀ وے، او زۀ به په آرام وے ۱۴ د دُنیا د بادشاهانو او
وزیرانو سره چې هغوئ د خپل ځان دپاره محلونه جوړ کړی
وُو او اوس ترې نه کنډرات جوړ دی، ۱۵ یا د شهزادګانو
سره چې د هغوئ سره سرۀ زر وی، چې هغوئ خپل کورونه
د سپینو زرو نه ډک کړی وُو. ۱۶ یا زۀ د مړ پېدا شوی
ماشوم په شان ولې ښخ نۀ شوم، د هغه ماشوم په شان چې
رڼا یې هیڅکله نۀ وی لیدلې؟ ۱۷ چرته چې بدعمله خلق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تکلیف نهٔ شي جوړولے، او ستړی خلق په آخر کښې آرام
مومی. ۱۸ چرته چې قېدیان هم په آرام وی، او هغوئ د
ظالمانو آواز نهٔ اوری. ۱۹ غټ او واړهٔ هلته دی، او غلامان
د خپلو نېکانو نه آزاد دی. ۲۰ چې څوک په مصیبت کښې
وی هغه ولې ژوندی پرېږدی، او چې د چا ژوند د غمونو نه
ډک وی نو هغهٔ له ژوند ولې ورکوی؟ ۲۱ چې څوک مرګ
غواړی، هغهٔ له نهٔ راځی، هغوئ دا د پټې خزانې نه زیات
لټوی، ۲۲ کله چې هغوئ مړهٔ شی نو ډېر خوشحاله شی، او
چې کله قبر له لاړ شی نو هغوئ خوشحاله شی. ۲۳ چې
څوک لار نهٔ شی لیدلے نو هغهٔ له رڼا ولې ورکولے شی،
څوک چې خُدائ پاک راګېر کړے وی. ۲۴ ځکه چې د
روټۍ په ځائ ما ته اسویلی راځی، او زما فریادونه د اوبو په
شان توېولے شی. ۲۵ چې زهٔ د څهٔ نه یرېږم نو هغه په ما
راځی، او چې د څهٔ نه یرېږم نو هغه په ما راغورزیږی. ۲۶
زهٔ په آرام نهٔ یم او نهٔ زهٔ خاموش یم، زهٔ پرېشانه یم، خو زما
مصیبت نهٔ ختمیږی.“

## د الیفز خبرې

۴ ۱ بیا تیمانی الیفز په جواب کښې ووئیل، ۲ ”کهٔ
څوک تا ته یوه خبره وکړی نو تهٔ به خفه کېږې څهٔ؟ خو د
خبرو نه څوک ځان منع کولے شی؟ ۳ ګوره، تا ډېرو
خلقو ته ښودنه کړې ده، تا کمزوری لاسونه تکړه کړی دی.
۴ ستا ډاډګیرنې خلق په خپلو پښو ودرولی دی. کوم خلق
چې په غورزیدو وُو هغوئ یې نېغ کړی دی. ۵ خو اوس
مصیبت په تا باندې راغلے دے او تهٔ وارخطا یې، چې دا تا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له درنزدېږ شی نو تهٔ پرېشانه شې. ۶ ستا اعتماد د خُدائ
پاک يره نهٔ ده څهٔ، او ستا نېک عمل تا له اُميد نهٔ درکوی؟
۷ اوس دا سوچ وکړه، داسې څوک شته چې بېګناه وی او
تباه شی؟ او داسې څوک صادق شته چې تباه شوے وی؟
۸ چې څومره ما ته پته ده، چې چا دا بېاِنصافی کړې ده
چې چا مصيبت کَرلے دے، نو هغهٔ مصيبت رېبلے دے.
۹ د خُدائ پاک د ساه په ذريعه هغوئ سزا موندلې ده، او
د هغهٔ د غصې د زور په وجه هغوئ تباه شوی دی. ۱۰
بدعمله د ازمری په شان غړمبيږی، خو خُدائ پاک هغوئ
غلی کوی او غاښونه يې ماتوی. ۱۱ لکه چې تکړه ازمرے د
ښکار د کمی په وجه هلاکيږی، او د دې واړهٔ بچی خوارهٔ
وارهٔ شی. ۱۲ اوس ما ته پټ پټ يو خبر راغلو، او زما
غوږُونو ته د دې غلے شان آواز راغلو. ۱۳ په نيمه شپه ما
يو يرووونکے خوب وليدو، دا په هغه وخت وو چې خلق په
درونډ خوب اودهٔ وُو، ۱۴ يره او لړزان په ما باندې راغلل،
چې دې زما ټول بدن وخوځولو. ۱۵ يو روح زما په وړاندې
تېر شو او زما په بدن وېښتهٔ نېغ ودرېدل. ۱۶ هغه روح ولاړ
وو، خو ما ته پته نشته چې دا څهٔ وُو. زما د سترګو په
وړاندې يو شکل وو، هر څهٔ خاموش وُو، بيا ما يو آواز
واورېدو، ۱۷ ولې انسان کولے شی چې د خُدائ پاک په
وړاندې صادق شی څهٔ؟ ولې انسان د خالِق نه زيات پاک
کېدے شی څهٔ؟ ۱۸ تر دې پورې چې هغه په خپلو
خِدمتګارانو باندې هم اعتماد نهٔ کوی، او هغه د خپلو فرښتو
کار ته هم غلط وائی، ۱۹ نو هغه به په انسان باندې څومره
کم اعتماد وکړی څوک چې د خاورې نه جوړ وی. نو څوک
چې د خاورې نه جوړ وی هغه به د پتنګ په شان په آسانئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ذرې ذرې شی. ٢٠ سحر روږغ وی او ماښام مړ شی. او
څوک هم پرې خبر نهٔ شی او د تل دپاره تباه شی. ٢١ د
هغوئ نه خپل ټول مال اخستے شوے دے، هغوئ په
جاهلیت مړهٔ شی.

٥ ١ آواز وکړه، داسې څوک شته چې تا له جواب
درکړی؟ داسې یوه فرښته شته څهٔ چې د هغې نه مدد
وغواړې؟ ٢ په حقیقت کښې نفرت کم عقل خلق وژنی، او
حسد ساده خلق وژنی. ٣ ما دا لیدلی دی چې څهٔ کم عقل
خلق د لږ وخت دپاره کامیاب وی، خو بیا ناڅاپه تباهی
وربانديې راشی. ٤ د هغوئ د بچو دپاره به د پناه هیڅ
امکان نهٔ وی، او داسې به څوک نهٔ وی چې په عدالت کښې
یې خلاص کړی. ٥ اوږی خلق د کم عقلو فصلونه خوری،
کهٔ د هغهٔ د پټو نه د حِفاظت دپاره ازغی هم تاو وی، لالچی
خلق د هغوئ دولت ختم کړی. ٦ ځکه چې خفګان د
زمکې نه نهٔ راځی، او نهٔ مصیبت د زمکې نه پیدا کیږی، ٧
خو انسانان د مصیبت دپاره داسې پیدا شوی دی لکه چې د
اور بڅرکی بره الوځی. ٨ کهٔ زهٔ ستا په ځائ وے نو ما به
خُدائ پاک لټولے، او خُدائ پاک ته به مې فریاد اورولے.
٩ هغه داسې لوئ لوئ کارونه کوی چې څوک وربانديې نهٔ
پوهیږی، هغه بې‌شمیره عجیبه کارونه کوی. ١٠ هغه په زمکه
بانديې باران ورَوی او هغه پټو ته اوبهٔ رالیږی، ١١ چې څوک
غریب وی نو خُدائ پاک یې مالداره کړی، او چې څوک
غمژن وی نو خوشحالی ورکړی. ١٢ هغه د چالاکو
منصوبې ګډې وډې کړی، نو داسې د هغوئ په لاس کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیڅ کامیابی نهٔ راځی. ۱۳ هغه هوښیار د خپلې چالاکۍ په
جال کښې راګېروی، او چالاک خلق زر فنا شی. ۱۴ د
ورځې په وخت په هغوئ تیارهٔ راشی او د غرمې په وخت
داسې تیندکونه خوری لکه چې شپه وی. ۱۵ خو هغه
ضرورتمند خلق د مرګ نه بچ کوی، او د زورَور د زور نه یې
بچ کوی. ۱۶ نو چې غریبانان اُمید ولری، او د بےاِنصافه
خلقو خولې بندې کړې شی. ۱۷ چې خُدائ پاک څوک
ټیک کړی نو هغوئ خومره خوشحاله وی، نو په دې وجه د
قادر خُدائ تربیت ته سپک مهٔ ګورئ. ۱۸ کهٔ هغه زخمی
کول کوی، نو هغه یې مرهم پټۍ هم کوی، کهٔ هغه وهل کوی،
نو د هغهٔ لاسونه یې علاج هم کوی. ۱۹ هغه به تاسو د شپږو
افتونو نه بچ کوی، او په اوؤم کښې به تاسو ته هیڅ نقصان نهٔ
رسیږی. ۲۰ په قحط کښې به هغه تاسو د مرګ نه په بیعه
واخلی، او په جنګ کښې به مو د مرګ نه بچ کړی. ۲۱
تاسو به د سپکو خبرو نه بچ شئ، او چې کله تباهی راځی نو
تاسو به نهٔ یریږئ. ۲۲ په تباهۍ او قحط پورې به تاسو خندا
کوئ، او د زمکې د ځنګلی ځناورو نه به نهٔ یریږئ. ۲۳ تاسو
چې کوم پټی کَرئ نو په هغې کښې به کاڼی نهٔ وی، او ځنګلی
ځناور به په تاسو حمله نهٔ کوی. ۲۴ تاسو ته به پته ولګی
چې ستاسو کور محفوظ دے، تاسو به وګورئ چې ستاسو د
رَمو نه به هیڅ ورک نهٔ وی. ۲۵ تاسو ته به پته ولګی چې
ستاسو اولاد به ډیر وی، داسې بےشمیره لکه په زمکه چې
واښهٔ وی. ۲۶ تاسو به خپل قبر ته په بوډاتوب کښې ځئ،
لکه چې د فصل ګېډۍ درمند ته په خپل موسم کښې راځی.
۲۷ ګوره، زمونږه چې د عمر په حقله کومه تجربه ده، دا
حقیقت دے. دا نصیحت واوره او په دې باندې عمل وکړه.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت اِیُوب خپل شکایت صحیح گڼل

۱-۲ اِیُوب جواب ورکړو، ”کاش چې زما غم تللے
شوے وے، او زما ټول مصیبتونه په تله کښې اچولے شوی
وے. ۳ ځکه چې دا به د سمندر د شگو نه درانهٔ وی، نو په
دې وجه زما خبرې گډې وډې وې. ۴ ځکه چې زهٔ د قادر
خُدائ په غشو باندې لگېدلے یم، د دې زهر زما په بدن کښې
خورېږی، د خُدائ پاک افتونه په ما باندې راروان دی. ۵
ولې زهٔ د شکایت کولو حق نهٔ لرم؟ ولې ځنگلی خرونه او
غویَی آواز نهٔ کوی څهٔ چې کله هغوئ خوراک نهٔ لری؟ ۶
چې څهٔ څیز بې‌خونده وی نو هغه د مالگې نه بغېر خوړلے
شی څهٔ، یا د هگۍ په سپینو کښې څهٔ مزه شته؟ ۷ کله چې
زهٔ دې ته وگورم نو زما لوږه ختمه شی، په داسې خوراک زهٔ
بیمارېږم. ۸ کاش چې زما خواست منظور شی، او خُدائ
پاک زما خواهش پوره کړی، ۹ زړهٔ مې غواړی چې تباه
مې کړی، او چې هغه خپل لاس راوږد کړی او ما ووژنی. ۱۰
دا به زما دپاره تسلی وی، زهٔ به په بې‌رحمه درد کښې هم
خوشحاله یم، ځکه چې ما به بیا هم د مقدسې هستۍ د خبرو
نه اِنکار نهٔ وی کړے. ۱۱ زما دومره طاقت نشته چې زهٔ دا
برداشت کړم، او چې زما څهٔ اُمید نشته نو بیا زهٔ ولې
ژوندے یم؟ ۱۲ زما طاقت لکه د کاڼو دے څهٔ؟ زما بدن د
اوسپنې نه جوړ دے څهٔ؟ ۱۳ په حقیقت کښې زهٔ د خپل
ځان سره د مدد کولو وس نهٔ لرم، او خلاصون زما نه تلے
دے. ۱۴ یو کس له په کار وی چې په خپل کمزوری دوست
باندې رحم وکړی، خو تاسو سره د قادر خُدائ یره نهٔ وی او
په ما اِلزام لگوئ. ۱۵ زما ورونړو، تاسو ما سره د خوړ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان دوکه بازی کوئ، چې کله باران نۀ وی نو دا اوچ شی.
۱۶ چې د ویلې شوې واورې د اوبو نه ډک وی، ۱۷ خو د
ګرمئ په وخت کښې دا اوبۀ اوچې شی، کله چې ګرمی شی،
نو دا فنا شی. ۱۸ د اوبو لټولو دپاره قافلې خپلې لارې بدلې
کړی، خو د څبلو دپاره اوبۀ نۀ وی، نو هغوئ مړۀ شی. ۱۹
د تیما قافلې دا اوبۀ لټوی، او د شیبا مسافر دا اُمید لری چې
اوبۀ به پیدا کړی. ۲۰ د قافلې یقین وی چې هغوئ به اوبۀ
پیدا کړی، خو چې کله هلته ورسیږی نو هغوئ مایُوسه شی
او اُمید یې ختم شی. ۲۱ اوس تاسو هم د دې اوچ خوړ په
شان یئ چې بېکاره دے، تاسو زما مصیبت ولیدلو او
ویرېدئ. ۲۲ ولې ما وئیلی دی څۀ، چې ما له تُحفه راکړئ؟
یا مې د پیسو دپاره تا ته کله مِنت کړے دے څۀ؟ ۲۳ یا دا
چې د دشمن د لاس نه مې بچ کړئ؟ یا د ظالمانو نه مې
خلاص کړئ؟ ۲۴ ما ته وښایئ او زۀ به خاموش شم، ما
پوهه کړئ چې زۀ څنګه په غلطه یم. ۲۵ رښتیا خبرې
څومره د درد نه ډکې وی. خو ستاسو د دې بحث نه مطلب
څۀ دے؟ ۲۶ ستاسو خیال دا دے څۀ چې زما خبرې به
صحیح کړئ، او د نا اُمیده سړی خبرې بې‌مطلبه ګڼئ؟ ۲۷
تاسو به یتیمان هم خرخ کړئ، او تاسو به د خپل دوست په
سر هم پیسې واخلئ. ۲۸ خو اوس ما ته وګورئ، ولې زۀ به
تاسو ته دروغ وایم څۀ؟ ۲۹ خپل سوچ بدل کړئ او
بې‌اِنصافه مۀ جوړېږئ، داسې وګڼئ چې زۀ په حقه یم. ۳۰
ستاسو څۀ خیال دے زۀ دروغ وایم څۀ؟ ستاسو په خیال
کښې زۀ په رښتیا او دروغو کښې فرق نۀ شم کولے؟

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت ایُوب وینا: زما تکلیفونه نهٔ ختمېدونکی دی

۷ ۱ بنی آدم په دُنیا کښې سخت محنت نهٔ کوی څهٔ، او د
هغوئ ژوند د مزدور په شان نهٔ دے څهٔ؟ ۲ لکه چې
غلامان د سورى په ارمان وى، او لکه مزدوران د خپلې
تنخواه په طمع وى. ۳ په میاشتو میاشتو زما څهٔ مقصد
نشته، او د غم شپې ما له راکړے شوې دى. ۴ کله چې زهٔ
څملم نو وایم چې، زهٔ به کله پاڅم؟ خو شپه اوږده وى، او تر
سحر پورې په کټ کښې اوړم راوړم. ۵ زما بدن د دانو او
چینجو نه ډک دے، زما څرمن سخا شى او بیا وشلیږى. ۶
زما عُمر د سیلئ په شان تېز روان دے، او په نااُمیدئ کښې
ختمیږى. ۷ یاد ساته چې زما ژوند صرف یوه ساه ده، او
زما سترګې به بیا هیڅکله ښهٔ ورځ ونهٔ ګورى. ۸ تهٔ ما
اوس وینې خو بیا به مې ونهٔ ګورې، تهٔ به ما لټوې، خو زهٔ به
نهٔ یم. ۹ لکه څنګه چې وریځ کمه شى او فنا شى، نو چې
څوک لاندې قبر ته لاړ شى نو هغه ترې نه بیا هیڅکله نهٔ شى
راختلے، ۱۰ هغوئ بیا واپس خپلو کورونو ته نهٔ شى
راتلے، او هغوئ به هیڅکله نهٔ ښکارى. ۱۱ نو په دې وجه
زهٔ به خپله خولهٔ نهٔ بندوم، زهٔ به د خپل زړهٔ د درد اظهار
کوم، زما زړهٔ د غصې نه تاو کړے دے. ۱۲ زهٔ سمندرى
بلا یم څهٔ؟ چې ما د نظر لاندې ساتې؟ ۱۳ زهٔ د دې دپاره
څملم چې آرام وکړم، د دې دپاره چې د درد نه خلاص شم.
۱۴ نو تهٔ بیا ما په خوبونو کښې یروې او په تصور کښې مې
یروې، ۱۵ نو زما دپاره د ساه بندیدل ښهٔ دى، د داسې کړاؤ
نه په مرګ خوشحال یم. ۱۶ زهٔ د خپل ژوند نه نفرت کوم،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زهٔ به همېشه ژوندے نهٔ يم. په دې لنډ تنګ ژوند کښې ما
پرېږده. ۱۷ بنی آدم څهٔ څيز دے، چې تهٔ يې دومره خاص
ګڼې، چې تهٔ هغوئ ته دومره توجو ورکوې، ۱۸ هر سحر يې
معائنه کوې، او هر وخت هغوئ معلوموې؟ ۱۹ تهٔ به ما له د
يوې لحظې موقع رانهٔ کړې چې ساه پکښې واخلم؟ ۲۰ اے
د بنيادمو ليدونکيه، کهٔ زهٔ ګناه کوم، نو په تا باندې څهٔ اثر
کوی؟ تا زهٔ ولې په نښه کړے يم؟ زهٔ په تا باندې بوج جوړ
شوے يم څهٔ؟ ۲۱ تهٔ زما غلطيانې ولې نهٔ معاف کوې او زما
ګناه ولې نهٔ لرې کوې؟ زهٔ به ډېر زر په لحد کښې پروت يم،
تهٔ به ما لټوې، خو زهٔ به مړ يم.“

## د بِلداد وينا

۸ ۱ بيا بِلداد شوحی ووئيل، ۲ ”ترڅو پورې به تهٔ دا
خبرې کوې، او دا بک بک به جاری ساتې؟ ۳ خُدائ پاک
د اِنصاف نه نهٔ اوړی. او د قادر خُدائ کارونه همېشه په حقه
وی. ۴ کهٔ ستاسو بچو د هغهٔ خِلاف ګناه کړې وی، نو
هغوئ ته به د هغې بدله مِلاو شوې وی. ۵ کهٔ تهٔ خُدائ
پاک ولټوې او قادر خُدائ ته په دُعا کښې سوال وکړې، ۶
کهٔ تهٔ صفا او صادق يې، نو هغه به په خپله راپاڅی او هغه به
تا له خپل صحيح مقام واپس درکړی. ۷ اګر چې ستا
شروع معمولی شان وه، خو په مستقبل کښې به مالدار شې.
۸ معلوماتو دپاره مخکښېنو نسلونو نه تپوس وکړه، او د
هغوئ چې کومې تجربې دی په هغې غور وکړه. ۹ ځکه
چې مونږ پرون پيدا شوی يُو او مونږ ته هيڅ پته نهٔ لګی، ځکه
چې په زمکه باندې زمونږ وخت د سوری په شان روان دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ خو پرېږده چې هوښيار مشران درته ښودنه وکړی، او د
هغوئ وينا ته غوږ نيسه. ۱۱ چرته چې اوبۀ نۀ وی نو هلته
لوخه نۀ را شنه کيږی، دا د اوبو نه بغير نۀ کيږی. ۱۲ او دا
لا شنه وی او ريبلے شوې نۀ وی، خو د نورو واښو نه زر
وچيږی. ۱۳ نو چې څوک خُدائ پاک هېروی نو د هغوئ هم
دغه لار ده، چې څوک د خُدائ نه منکر وی نو د هغوئ اُميد
به ختم شی. ۱۴ د هغوئ ايمان نازک وی، د هغوئ يقين د
جولا د جالې په شان وی. ۱۵ چې څوک په دې جاله يقين
کوی نو هغوئ ته به دا جاله ټينګه نۀ شی، کۀ څوک ورپورې
ځان وتړی، نو دا به يې برداشت نۀ کړی. ۱۶ منکر کسان
داسې ښکاری چې په نمر کښې رازرغون وی، او د دې
څانګې په باغ کښې خورې ورې وی. ۱۷ د هغوئ جرړې د
کاڼو د ډېرى نه تاوېږی، او دا کاڼی کلک نيسی. ۱۸ خو کۀ
هغوئ د خپل ځائ نه لرې کړے شی، نو بيا به هغوئ اِنکار
وکړی او وائی به چې ما تاسو کله هم نۀ يې ليدلے. ۱۹
ګوره، د هغوئ خوشحالی به د لږ وخت دپاره وی، خو نور
بوټی راشنۀ شی او د دې ځائ ونيسی. ۲۰ ګوره، خُدائ
پاک به يو بې‌داغه کس نۀ رد کوی، او نۀ به د بدعمله خلقو
مدد وکړی. ۲۱ هغه به بيا هم تاسو له خوشحالی درکړی، او
ستاسو خولې به د خندا نۀ ډکې کړی. ۲۲ چې څوک ستا نه
نفرت کوی نو هغوئ به په شرمونو وشرميږی، او د بدکارانو
کور به تباه شی.“

## د حضرت اِيُوب جواب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ (١) نو ايُوب ورته په جواب کښې وفرمائيل، (٢) ”په
حقيقت کښې ما ته پته ده چې دا هم داسې ده، خو بنی آدم د
خُدائ پاک په مخکښې څنګه صادق کېدے شی؟ (٣) کۀ يو
کس د هغۀ سره لانجه کول وغواړی، نو هيڅ څوک به د هغۀ
د زرګونو سوالونو نه د يو جواب هم ورنۀ کړی. (٤) ځکه
چې هغه زورَور او د حِکمت خاوند دے او څوک هم چې د
هغۀ مخالفت کوی نو نقصان به اوچتوی. (٥) هغه ناڅاپه
غرونه خوځوی، او په غصه کښې يې تباه کوی، (٦) څوک
چې په زمکه زلزله راولی، او د دې بنيادونه خوځوی، (٧) کۀ
هغه حُکم وکړی نو نمر به راونۀ خېژی، او ستوری به ونۀ
ځليږی، (٨) چا چې يواځې آسمانونه خوارۀ کړی دی چا
چې د سمندر چپې ايسارې کړې دی، (٩) چا چې ټول
ستوری جوړ کړی دی، په دې کښې دب اکبر، جبار او ثريا
او جنوبی ستوری هم شامل دی. (١٠) څوک چې د عقل نه
بهر لوئ لوئ کارونه کوی، او بېشمېره عجيبه عجيبه کارونه
کوی. (١١) ګوره، هغه زما نه تېر شو، خو زۀ هغه نۀ وينم،
هغه تېرېږی، خو زۀ د هغۀ په تلو نۀ پوهېږم. (١٢) چې هغه
روح وباسی نو څوک يې منع کولے شی؟ څوک دا جرأت
کولے شی چې ورته ووائی چې تۀ څۀ کوې؟ (١٣) خُدائ پاک
به د خپلې غصې نه نۀ اوړی، هغۀ سمندری بلاګانې هم د پښې
لاندې چخنې کړی دی. (١٤) نو زۀ څوک يم چې هغۀ له
جواب ورکړم، او زۀ څوک يم چې د هغۀ سره بحث وکړم؟
(١٥) اګر چې زۀ بېګناه يم او زۀ هغۀ له جواب نۀ شم
ورکولے، زۀ خپل قاضی ته صِرف د رحم درخواست کولے
شم. (١٦) کۀ ما هغۀ ته آواز وکړو او هغۀ جواب راکړو، نو
زما يقين نۀ دے چې هغه به زما فرياد واوری. (١٧) ځکه چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ زهٔ په طوفان وهلے یم، او هغه بار بار ما زخمی کوی،
۱۸ هغه به ما ساه اخستو ته پرې نهٔ ږدی، خو زما ژوند به د
غمونو نه ډک کړی. ۱۹ کهٔ دا د زور خبره وی، نو هغه
طاقتور دے. کهٔ دا د اِنصاف خبره وی، نو هغه عدالت ته
څوک راغوښتے شی؟ ۲۰ اګر چې زهٔ بېګناه یم، خو زما
خپله خولهٔ به ما مجرم کړی، اګر چې زهٔ بېداغه یم، خو
خپله خولهٔ به ما ګناهګار ثابِتوی. ۲۱ زهٔ بېداغه یم، زهٔ خپل
ځان هم نهٔ پېژنم، زهٔ خپل ژوند ته سپک ګورم. ۲۲ ګناهګار
او بېګناه ټول د خُدائ پاک په نظر کښې یو شان دی نو ځکه
زهٔ وایم، هغه بېداغه او بدکاره دواړه تباه کوی. ۲۳ کله چې
افت ناڅاپه مرګ راولی، نو هغه د بېګناه په غم پورې ټوقې
کوی. ۲۴ ټوله دُنیا د بدکاره په لاس کښې ورکړے شوې ده،
خُدائ پاک د قاضیانو سترګې پټوی، کهٔ هغه دا نهٔ کوی نو بیا
یې څوک کوی، او دا څوک دے؟ ۲۵ زما ژوند د منډه
وهونکی نه تېز دے، دا په منډه روان دے او هیڅ خوشحالی
ورته نهٔ ملاوېږی. ۲۶ زما ژوند د تېزې کشتۍ په شان روان
دے، داسې لکه چې باز په ښکار باندې غوټه شی. ۲۷ کهٔ
اراده وکړم چې خپل شکایت پرېږدم، نو زهٔ به خپل خفګان په
خوشحالۍ بدل کړم، ۲۸ زهٔ د خپلو ټولو تکلیفونو نه یرېږم،
ځکه چې زهٔ په دې پوهېږم چې تاسو به ما بې ګناه ونهٔ ګڼئ.
۲۹ چې زهٔ مجرم ګڼلے شم، نو زهٔ بیا بېفائدې خوارى ولې
کوم؟ ۳۰ کهٔ زهٔ خپل ځان په واوره ووینځم او خپل لاسونه
په صابون پاک کړم، ۳۱ خو تهٔ به ما یوې ګنده کندې ته
وروغورزوې، او زما خپلې جامې به زما نه نفرت کوی. ۳۲
هغه زما په شان فانی انسان نهٔ دے، نو ځکه نهٔ ورسره بحث
کولے شم او نهٔ یې د جرګې ځائ ته بوتلے شم. ۳۳ زمونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په مينځ کښې روغه کوونکے نشته، چې هغه زمونږ دواړو
روغه جوړه وکړى. ۳۴ کۀ مينځګړے ما د خُدائ پاک د
سزا نه بچ کړى نو زۀ به بيا په يره کښې ژوند نۀ تېروم. ۳۵
بيا به زۀ ډاډه خبرې کوم چې د هغۀ يره زما په زړۀ کښې نۀ
وى خو چې ترڅو پورې دا يره وى نو زۀ نۀ شم کولے.

## د حضرت ايُوب د خپل ژوند نه نفرت

۱۰ ۱ زۀ د خپل ژوند نه نفرت کوم، زۀ به ډېر شکايتونه
کوم، زۀ به په مايوسئ کښې خبرې کوم. ۲ زۀ به خُدائ
پاک ته ووايم چې ما مۀ رد کوه، او تۀ چې په ما کوم اِلزام
لګوې نو د هغې نه ما خبر کړه. ۳ دا تا ته ښۀ ښکارى، چې
ما په عذاب کړې، چې ما يعنې د خپلو لاسونو کار رد کړې
او د بدکارو خلقو منصوبو ته ښۀ ووائې؟ ۴ ولې ستا نظر
د انسانانو په شان دے؟ تۀ د انسان په شان کتل کوې څۀ؟
۵ ستا عُمر زمونږ په شان لنډ دے څۀ؟ يا ستا کالونه د
انسانانو د کالونو په شان دى څۀ؟ ۶ چې تۀ زما غلطى
معلوموې او زما ګناه لټوې، ۷ اګر چې تا ته پته ده چې زۀ
بېګناه يم، او ستا د لاسونو نه مې هيڅ څوک نۀ شى بچ
کولے. ۸ ستا لاسونو ما له صورت راکړو او جوړ يې
کړم، او اوس مې بيخى تباه کوې. ۹ هغه راپه ياد کړه چې
تا زۀ د خټو نه جوړ کړم، او اوس به تۀ ما بيا خاورې کوې؟
۱۰ تا زۀ د مور په خېټه کښې کړم او زما وجود دې جوړ کړو.
۱۱ تا زۀ د غوښې او څرمنې نه جوړ کړم، او د هډُوکو او
پټو په ذريعه دې يو ځائ وتړلم. ۱۲ تا ما له ژوند او نۀ
ختمېدونکې مينه راکړې ده، او تا زما د ژوند ښۀ حِفاظت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے دے. ۱۳ خو اوس ما ته پته ولګېده چې تا د ډېر
وخت نه ما ته د نقصان دپاره پټه منصوبه جوړه کړې وه.
۱۴ کۀ زۀ ګناه وکړم نو تۀ ما وينې، او زما ګناه تۀ نۀ معاف
کوې. ۱۵ کۀ زۀ بدکاره يم، نو ما غمژن کړه. او کۀ زۀ
صادق يم، نو خپل سر نۀ شم اوچتولے، ځکه چې زۀ د شرم
سره مخ شوے يم او په غمونو کښې ډوب يم. ۱۶ او کۀ زۀ
خپل سر اوچتوم، نو تۀ د ازمرى په شان زما ښکار کوې، او
خپل لوئ طاقت زما خِلاف استعمالوې. ۱۷ تۀ خپل ګواهان
زما خِلاف بيا راتازه کړې، او خپله غصه زما خِلاف زياتوې،
تۀ زما خِلاف تازه دم فوجيان رالېږې. ۱۸ تا زۀ د مور د
خېټې نه ولې راوويستلم؟ کاش چې زۀ د خلقو د سترګو د
ليدو نه مخکښې مړ شوے وے. ۱۹ ښۀ به دا وے چې د
سره پيدا شوے نۀ وے او د مور د خېټې نه سيدها قبر ته
تلے وے. ۲۰ زما ژوند لنډ نۀ دے څۀ؟ ما پرېږده نو چې
داسې يو ساعت په آرام شم، ۲۱ خو چې زۀ لاړ شم او بيا
هيڅکله راواپس نۀ شم، چې تور او د تکې تورې تيارې مُلک
ته لاړ شم، ۲۲ د نيمې شپې په شان تيارۀ، د لانجو مُلک ته،
چرته چې رڼا هم د تيارې په شان وى.“

## د ضوفر وينا

۱۱ ۱ بيا ضوفر نعماتى جواب ورکړو، ۲ ”د ډېرو
خبرو جواب په کار نۀ دے څۀ؟ ولې يو سړے په ډېرو خبرو
خپل ځان بې‌ګناه ثابتولے شى څۀ؟ ۳ ستا فالتو خبرې دې
نور خلق غلى کړى څۀ؟ کله چې تۀ د چا سپکاوے کوې، نو
څوک به تا ته ګوته نۀ نيسى څۀ؟ ۴ ځکه چې تۀ وائې چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما عقیده تیک ده، او زۀ د خُدائ پاک په نظر کښې صفا یم،
۵ کاش چې خُدائ پاک کلام کړے وے، او هغۀ تا ته
صفا وینا کړے وے، ۶ او هغه به تا ته د حِکمت رازُونه
وښائی. ځکه چې رښتینے حِکمت په ډېرو طریقو سره
حاصلیږی. نو بیا پوهه شه چې خُدائ پاک تا له د هغې نه
کمه سزا درکوی چې څومره تۀ د ګناه په وجه حقدار یې.
۷ ولې تۀ د خُدائ پاک هغه پټې خبرې معلومولے شې؟ او
یا تۀ د قادر خُدائ حد معلومولے شې څۀ؟ ۸ دا حد د
آسمان نه اوچت دے، تۀ څۀ کولے شې؟ او د مرګ د کندې
نه ډُوب دے، تا ته څۀ پته ده؟ ۹ د دې پېمانه د زمکې نه
اوږده ده، او د سمندر نه پلنه ده. ۱۰ کۀ خُدائ پاک راشی
او تا په قیدخانه کښې واچوی، او هغه د اِنصاف دپاره عدالت
جوړ کړی، نو هغه څوک ایسارولے شی؟ ۱۱ ځکه چې هغۀ
ته پته ده چې څوک دوکه باز دے، او هغه یې د هرې ګناه نه
خبر وی. ۱۲ خو یو کم عقل کس به په هغه وخت هوښیار
شی، چې کله د یوې کوچانۍ نه یو انسان پېدا شی. ۱۳ کله
چې ستا خپل زړۀ تیار شې، او لاسونه هغۀ ته اوچت کړې
۱۴ د ګناهونو نه ځان خلاص کړې، او بدعملی د خپل کور
نه ختمه کړې، ۱۵ نو یقیناً به بیا تۀ خپل سر بغېر د څۀ شرم
نه اوچت کړې، تۀ به په امن کښې یې او نور به نۀ یرېږې. ۱۶
تۀ به خپل غم هېر کړې، او داسې به دې هېر شی لکه چې بیا
به دې هیڅ خیال کښې نۀ راځی. ۱۷ او ستا ژوند به د غرمې
د نمر نه زیات روښانه وی، او تیارۀ به دې هم د سحر د رڼا
په شان وی. ۱۸ او ستا به اعتماد پېدا شی، ځکه چې اُمید
شته، او تۀ به بچ شې او په حِفاظت کښې به آرام کوې. ۱۹
تۀ به څملې او هیڅ څوک به تا نۀ یروی، ډېر خلق به ستا نه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مدد اُمید ساتی. ٢٠ خو د بد کاره خلقو سترګې به ړندې
شی، او هغوئ به د تيښتې ټولې لارې خطا کړی، او هغوئ به
صرف د مرګ په انتظار وی.“

## د حضرت ايُوب جواب

١٢ ١ نو ايُوب جواب ورکړو، ٢ ”په دې کښې هيڅ
شک نشته چې تاسو په هر څۀ پوهېږئ، او چې کله تاسو
مرئ نو ستاسو پوهه به تاسو سره ختمه شی. ٣ خو زۀ هم
ستاسو په شان پوهه لرم، زۀ ستاسو نه کم نۀ يم، چې تاسو
څۀ وايئ نو په دې باندې هر څوک پوهيږی. ٤ زۀ د خپلو
دوستانو دپاره يوه مسخره يم، زۀ چې خُدائ پاک ته آواز کوم
نو هغه زما آواز اوری، زۀ يو داسې سړے يم چې صادق او
بې‌داغه يم، خو زۀ مسخره جوړ شوے يم. ٥ کوم خلق چې
په آرام وی نو هغوئ په هغه چا پورې خندا کوی چې څوک
په تکليف کښې دی، او هغه خلقو له ديکه ورکوی د چا چې
پښې ښوئيږی. ٦ د ډاکوانو کورونه په امن کښې وی، او
چې څوک خُدائ پاک راپاروی نو هغه محفوظ وی، اګر چې
هغوئ د خُدائ پاک په ځائ په خپل طاقت باندې بهروسه
کوی. ٧ خو د ځناورو نه تپوس وکړئ او هغوئ به ستاسو
رهنمائی وکړی، او په هوا کښې د مارغانو نه تپوس وکړئ، نو
هغوئ به تاسو ته ښودنه وکړی، ٨ او د زمکې د بوټو نه
تپوس وکړئ، نو دا به تاسو ته ښودنه وکړی، او د سمندر
کبانو نه تپوس وکړئ نو هغه به تاسو ته دا بيان وکړی. ٩
ځکه چې هغوئ ټولو ته پته ده چې زما تکليف د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د طرف نه دے. ١٠ د هغۀ په لاس کښې د هر ژوندى څيز
ژوند دے او د هغۀ په لاس کښې د هر بشر ساه ده. ١١ ولې
غوږونه د خبرو معائنه نۀ کوى لکه څنګه چې ژبه د خوراک
خوند معلوموى؟ ١٢ ولې حِکمت د سپينږيرو سره نۀ وى
څۀ؟ ولې زيات عُمر سره پوهه نۀ راځى څۀ؟ ١٣ حِکمت او
طاقت د خُدائ پاک سره دى، د هغۀ سره رهنمائى او پوهه
شته دے. ١٤ چې هغه څۀ وران کړى نو هيڅ څوک يې بيا نۀ
شى جوړولے، او چې هغه کوم سړے قيدى کړى نو هغه
خلاصيدلے نۀ شى. ١٥ کۀ هغه باران ايسار کړى، نو زمکه
به اوچه شى، کۀ هغه اوبۀ راپريږدى، نو اوبۀ به زمکه تباه
کړى. ١٦ طاقت او حِکمت د هغۀ سره دے، دوکه
خوړونکے او دوکه ورکوونکے د هغۀ د اختيار لاندې دى.
١٧ هغه د مشرانو نه پوهه اخلى، او د قاضيانو نه کم عقلان
جوړوى. ١٨ هغه د بادشاهانو نه اختيار واخلى، او د هغوئ
نه غلامان جوړ کړى. ١٩ هغه اِمامان شړى او اختيار ترې
اخلى، او هغه طاقتور لرې کوى چې هېر وخت يې حکومت
کړے وى. ٢٠ هغه اعتبارى مشيران غلى کړى، د مشرانو نه
حِکمت يوسى. ٢١ هغه شهزادګان سپک کړى، او هغه د
زورَورو زور اوبۀ کوى. ٢٢ هغه د قبر تيارۀ لرې کوى، او
هغه تکه توره تيارۀ په رڼا بدلوى. ٢٣ هغه قومونه تکړه کړى
او بيا يې تباه کړى، هغه قومونه لوئ کړى او بيا يې پريږدى.
٢٤ هغه د دُنيا د مشرانو نه پوهه ختموى، او پرې يې ږدى
چې سرګردانه او پريشانه ګرځى. ٢٥ هغه مشران په تيارۀ
کښې د ړندو په شان سرګردانه ګرځى، او د شرابى په شان
يې څنګيدلے کړى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ١٣

١ ګوره، زما سترګو دا هر څۀ ليدلی دی، او زما
غوږُونو دا اورېدلی دی او پوهه شوے يم. ٢ چې تا ته د
څۀ پته ده نو ما ته هم د هغې پته ده، زۀ تا نه څۀ کم نۀ يم.
٣ خو زۀ به د قادر خُدائ سره خبره وکړم، او زۀ غواړم
چې هغۀ ته خپل ځان بېګناه ثابت کړم. ٤ د حقيقت پټولو
دپاره تاسو دروغ وايئ، او تاسو د بېکاره طبيبانو په شان يئ.
٥ مړه کۀ تاسو خولې بندې کړئ، نو دا به ستاسو
عقلمندی وی. ٦ اوس تاسو زما بحث واورئ، او زما
زاری واورئ. ٧ تاسو هغه څۀ وايئ څۀ چې خُدائ پاک نۀ
دی وئيلی، او تاسو د هغۀ د خاطره د دوکې خبرې کوئ څۀ؟
٨ تاسو به د هغۀ طرفداری کوئ څۀ، تاسو به د خُدائ پاک
صفائی کوئ څۀ؟ ٩ دا به ستاسو دپاره ښۀ وی څۀ چې
هغه ستاسو آزمېښت وکړی؟ يا تاسو هغه داسې دوکه کولے
شئ، لکه چې تاسو نور کسان دوکه کوئ؟ ١٠ هغه به
بېشکه تاسو ورَټی کۀ تاسو په پټه طرفداری وکړئ. ١١ د
هغۀ د شان نه به تاسو يرېږئ نه څۀ، او د هغۀ يره به په تاسو
باندې غالبه نۀ شی؟ ١٢ ستاسو قيصې او متلونه د ايرو په
شان بېکاره دی، او ستاسو خبرې د خټې د لوښو په شان
کچه دی. ١٣ تاسو غلی شئ او ما له د خبرو کولو موقع
راکړئ، نو چې څۀ کيږی هغه دې په ما وشی. ١٤ زۀ به خپل
ژوند په خطره کښې واچوم، او د خپل زړۀ خبره به وکړم.
١٥ کۀ هغه ما وژنی هم خو زۀ به په هغۀ توکل کوم، او زۀ به
د هغۀ په مخکښې خپله دفاع کوم. ١٦ او داسې به زۀ بچ شم
ځکه چې زۀ څۀ کافر خو نۀ يم کۀ زۀ وم نو بيا به زۀ د هغۀ په
مخکښې نۀ شوم ودرېدے. ١٧ زما خبره په غور سره
واورئ، او تاسو ما ته غوږ ونيسئ. ١٨ ګورئ، ما د خپلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې تيارے کړے دے، ما ته پته ده چې زۀ به بېګناه ثابت
شم. ۱۹ څوک ما سره په دې باندې بحث کولے شى؟ کۀ
څوک ما غلط ثابت کړى نو زۀ به خاموش شم او مړ به شم.

## د حضرت ايُوب خفګان

۲۰ اے خُدايه، ما له صرِف دوه څيزونه راکړه، نو بيا به زۀ
خپل ځان ستا نه نۀ پټوم. ۲۱ خپله سزا زما نه لرې کړه، او
په خپله يره باندې ما مۀ يروه. ۲۲ بيا ما ته آواز وکړه او زۀ
به جواب درکړم، يا ما له اجازت راکړه چې خبرې وکړم او
تۀ ما له د هغې جواب راکړه. ۲۳ زما غلطيانې او زما
ګناهونه څومره دى؟ ما ته زما بغاوت او زما ګناه وښايه.
۲۴ تۀ خپل مخ ولې پټوې، او تۀ ما خپل دشمن ولې ګڼې؟
۲۵ زۀ خو هيڅ هم نۀ يم، نو تۀ ما ولې يروې؟ زۀ خو داسې
يم لکه چې په هوا کښې پاڼې خوَرې دوړې الوځى. ۲۶ ځکه
چې تۀ زما خِلاف ترخې خبرې ليکې، او تۀ ما له د ځوانئ د
ګناه سزا راکوې. ۲۷ تۀ زما پښې په زولنو کښې تړې، او تۀ
زما په ټول چال چلن نظر ساتې، او زما د پښو چاپونه هم
معلوموې. ۲۸ زۀ د سخا څيزونو په شان خراب شوے يم، د
هغه جامو په شان چې چينجو خوړلې وى.

## ۱۴

۱ يو فانى انسان، د مور د خېټې نه پېدا، د يو څو
ورځو مېلمه او د تکليفونو نه ډک، ۲ د يو ګل په شان
راوټوکيږى او مړاوے شى، هغه د سورى په شان منډه وهى
زر زر ختميږى. ۳ تۀ په يو کمزورى مخلوق باندې نظر
ساتې؟ او تۀ ما سره عدالت کوې؟ ۴ د يو ناپاک څيز نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک پاک خیز راویستلے شی؟ دا کار هیڅ ځوک هم نۀ شی کولے. ۵ ځکه چې د هغوئ د عُمر حد مقرر دے، او د هغوئ د میاشتو شمېر تا ته معلوم دے، او دا تا مقررې کړې دی او دا نۀ شی بدلېدلے، ۶ نو مونږ پرېږده چې آرام وکړُو. مونږ د مزدورانو په شان يُو او مونږ پرېږده چې خپل کار په خېر ختم کړُو. ۷ کۀ یوه ونه هم راوغورزولے شی، نو امکان شته دا به بیا راوشی، او د دې شنۀ کېدل به نۀ ختمیږی. ۸ اګر چې د دې جرړې په زمکه کښې زړېږی، او د دې مونډ په زمکه کښې ورَستیږی، ۹ خو یو ځاڅکی اوبو سره به دا بیا را شنه شی، او د یوې نوې ونې په شان به دا بیا ځانګې ونیسی. ۱۰ خو چې انسان مړ شی نو طاقت يې ختم شی، چې انسان ساه ورکړی نو بیا چرته وی؟ ۱۱ لکه څنګه چې د یو ډنډ اوبۀ کمیږی، او په سیند کښې اوبۀ اوچیږی، ۱۲ نو انسان په قبر کښې څملی او بیا نۀ راپاڅی، چې ترڅو پورې آسمانونه ختم شوی نۀ وی، نو هغوئ به د خپل خوب نه نۀ راپاڅی. ۱۳ کاش، چې تا زۀ په قبر کښې پټ کړے وے، او چې تر هغې پورې دې زۀ فنا کړے وے چې ستا غصه تېره شوے وے، او یا دې یو وخت مقرر کړے وے چې زۀ دې راپه یاد شوے وے. ۱۴ چې انسان ختم شی، نو هغه بیا ژوندے کېدے شی څۀ؟ زۀ به زما د سخت محنت په دې ټولو ورځو کښې اِنتظار کوم تر هغې پورې چې زما تکلیف ختم شی. ۱۵ تۀ به ما ته آواز وکړې او زۀ به جواب درکړم، تۀ به د هغه مخلوق ارمان وکړې چې تا پېدا کړی دی. ۱۶ بیا به تۀ زما په هر قدم باندې نظر ساتې، خو زما د ګناهونو حساب به نۀ کوې. ۱۷ زما ګناهونه به په یوه بوجۍ کښې بند شوې وی، او تۀ به زما ټولې غلطیانې پټې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي. ۱۸ خو غر راوغورزيږی او ټوټې ټوټې شی، او غټ
غټ کاڼی د خپل ځائ نه وخوځيږی، ۱۹ اوبۀ کاڼی مږی،
او سېلاب د زمکې خاوره اوړی، نو داسې تۀ د انسان اُميد
تباه کوې. ۲۰ تۀ په هغوئ باندې تل غالب يې او هغوئ
ختميږی، تۀ د هغوئ شکلونه بدلوې او د مرګ په طرف يې
بوځې. ۲۱ کۀ د هغۀ بچو ته عزت مِلاو شی، نو هغۀ ته پته نۀ
لګی، او کۀ د هغۀ د بچو سپکاوے وشی نو هم هغۀ ته پته نۀ
لګی. ۲۲ هغۀ ته صِرف د خپل بدن درد محسوسيږی، او
هغه صرف په خپل غم کښې آخته وی.“

## د اليفز وينا

۱۵ ۱ نو تيمانی اليفز جواب ورکړو، ۲ ”يو هوښيار
کس دې تشې خبرې وکړی څۀ، او هغه دې هسې بې‌مطلبه
خبرې وکړی څۀ؟ ۳ هغوئ دې په بې‌فائدې خبرو باندې
بحث کوی څۀ، يا په داسې خبرو باندې چې د هغې هيڅ
مقصد نۀ وی؟ ۴ خو تۀ د خُدائ پاک نه هيڅ يره نۀ لرې،
او د خُدائ پاک د عبادت لاره نيسې. ۵ ځکه چې ستا ګناه
ستا ژبې ته ښودنه کوی، او تا د دوکه باز ژبه خوښه کړې
ده. ۶ دا زۀ نۀ يم، خپله ژبه تا ته بد وائی، ستا خپله خولهٔ
ستا خِلاف ګواهی ورکوی. ۷ تۀ د بنی آدم د نسل وړومبے
پيدا شوے کس يې څۀ؟ تۀ د غرونو نه مخکښې پېدا شوے يې
څۀ؟ ۸ تا د خُدائ پاک د راز منصوبې واورېدې څۀ؟ او
ستا څۀ خيال دے ولې تۀ يواځې هوښيار يې څۀ؟ ۹ تا
سره داسې څۀ عِلم دے چې مونږ سره نشته؟ تۀ داسې په څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوهېږي چې مونږ پرې نۀ پوهېږو؟ ۱۰ سپين‌ږيرى او
بوډاګان زمونږ په طرف باندې دى، کوم چې ستا د پلار نه
ډېر مشران دى. ۱۱ د خُدائ پاک تسلى ستا دپاره کمه ده
څۀ؟ د هغۀ نرمې خبرې ستا دپاره کافى نۀ دى څۀ؟ ۱۲ تۀ د
خپلو جذباتو نه کار ولې اخلې؟ او ستا رنګ ولې دومره سور
دے ۱۳ چې خُدائ پاک ته غصه يې؟ او ستا د خولې نه
داسې ګډې وډې خبرې وځى؟ ۱۴ بنى آدم څۀ وى، چې هغه
صفا شى؟ او چې د ښځې نه پيدا شى، نو هغه صادق کېدے
شى؟ ۱۵ ګوره، خُدائ پاک په خپلو فرښتو باندې هم اعتبار
نۀ کوى، او د هغۀ په نظر کښې آسمانونه هم صفا نۀ دى، ۱۶
نو بيا به بنى آدم نور هم ګنده او ګناه ګار وى، څوک چې هر
وخت په ګناه کښې آخته وى. ۱۷ کۀ تۀ زما خبرې ته غوږ
کېږدې، نو زۀ به تا ته وښايم، او چې ما څۀ ليدلى وى نو زۀ
به درته د هغې بيان وکړم. ۱۸ څۀ چې هوښيارانو وئيلى دى،
نو د هغوئ پلار نيکۀ دا خبرې د هغوئ نه پټې نۀ دې ساتلې،
۱۹ کومو مشرانو له چې ډېره موده مخکښې دا مُلک
ورکړے شو او چې په هغه وخت کښې لا غېر قومونه نۀ وو
راغلى. ۲۰ بدعمله خلق ټول عمر په خپل درد کړيږى، د
تکليف کالونه په ظالمانو باندې راجمع شوى دى. ۲۱ د
هغوئ په غوږُونو کښې يروونکى آوازونه دى، د امن په وخت
کښې به په هغوئ باندې تباهى راشى. ۲۲ هغوئ تيارۀ ته د
تلو همت نۀ شى کولے، د هغوئ ژوند هر وخت په خطره
کښې وى. ۲۳ ټپوسان انتظار کوى چې د هغوئ غوښې
وخورى، او تباهى د هغوئ سر له راغلې ده، ۲۴ پرېشانى او
تکليف هغوئ ويروى، او دا څيزونه په هغوئ باندې غالِب
شى، داسې لکه چې يو بادشاه د جنګ دپاره تيار شى. ۲۵

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغوئ خپل لاسونه د خُدائ پاک خِلاف اوچت
کړل، او هغوئ د قادر خُدائ نه بغاوت وکړو. ۲۶ هغوئ د
هغهٔ خِلاف د سرکشئ سره حمله کوی، او یو غټ ډال
ورسره وی. ۲۷ دا بدعمله خلق درانهٔ او مالدار دی، د هغوئ
څټونه په وازګه باندې غټ شوی دی. ۲۸ هغوئ به په تباه
شوی ښارونو کښې ژوند تېروی، او په داسې کوَرنو کښې چې
په هغې کښې هيڅ څوک هم نهٔ اوسيږی، داسې کورونه چې په
راغورزېدو بدل وی، ۲۹ هغوئ به نهٔ مالداره کيږی او د
هغوئ مال دولت به نهٔ پاتې کيږی، او هغوئ به د زمکې د مخ
نه ورک شی. ۳۰ هغوئ به د تيارې نه ونهٔ تښتی، لمبې به د
هغوئ څانګې وسوزوی، او د هغوئ ژوند به داسې ختم شی
لکه چې هوا د ګلونو غوټئ ختموی. ۳۱ هغوئ دې نور خپل
ځان په فانی مالدارئ باندې نهٔ دوکه کوی، ځکه چې هغوئ به
تش لاس پاتې شی. ۳۲ د ونو په شان، چې کله دا ښې شنې
وی نو ووهلے شی، او د دې څانګې بيا هيڅکله شنې نهٔ شی.
۳۳ او د هغوئ انګور چې لا کچه وی نو ويه غورزيږی، او د
زيتُونو د ونو په شان به خپلې د ګلونو غوټئ ضائع کړی. ۳۴
ځکه چې د خُدائ پاک نه د منکرو خلقو اولاد به نهٔ وی، او
څوک چې د رشوت سره مينه کوی نو اور به د هغوئ
کورونه سوزوی. ۳۵ داسې خلق نورو ته د نقصان رسولو په
سوچ کښې وی، هغوئ شيطانی کوی او د هغوئ زړونه د
دوکې نه ډک وی.“

## د حضرت ايُوب جواب

۱۶ ۱ بيا ايُوب جواب ورکړو، ۲ ”زهٔ د دې څيزونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه پخوا خبر یم، او ستاسو خبرې ما له تسلی نهٔ راکوی. ٣
ستاسو د هوائی خبرو څهٔ حد نشته څهٔ؟ یا په څهٔ وجه باندې
تاسو خبرې نهٔ بندوئ؟ ۴ کهٔ تاسو زما په ځائ وئ نو هم
ما ستاسو خِلاف لوئې لوئې خبرې جوړولے شوې، او
ستاسو سپکاوے به مې کړے وے. ۵ خو کهٔ دا زهٔ وے،
نو ما به ستاسو حوصله افزائی کړے وے. او ما به دا
کوشش کړے وے چې ستاسو غم لرې کړم. ۶ خو کهٔ زهٔ
د خپل ځان صفائی پېش کوم نو زهٔ به په تکلیف کښې کېږم،
خو کهٔ زهٔ خبرې نهٔ کوم نو ما ته بیا هم ډېر تکلیف رارسیږی.
٧ اے خُدایه پاکه، زهٔ اوس تا ډېر ستومانه کړے یم، تا زما
مکمل خاندان تباه کړے دے. ٨ تا زهٔ ګېر کړے یم، او دا
زما خِلاف یو ثبوت دے، چې زهٔ اوچ کلک او کمزورے
شوے یم، او دا زما خِلاف ګواهی ورکوی. ٩ هغهٔ د خپلې
غصې په وجه زهٔ خراب کړے یم او زما نه نفرت کوی، هغهٔ
ما ته خپل غاښونه چیچلی دی، زما دشمن د هغهٔ سترګې زما
خِلاف برندوی. ١٠ خلق ما پورې خندا کوی، هغوئ په
مسخرو کښې ما په مخ باندې وهی او زما خِلاف یې اتفاق
کړے دے. ١١ خُدائ پاک ما د خُدائ نه منکرو خلقو له
ورکوی، او د بدعمله خلقو لاسونو ته مې حواله کوی. ١٢
زهٔ صحیح سلامت وم او هغهٔ زهٔ دوه ټوټې کړم، هغهٔ زهٔ د
څټ نه ونیولم او ټوټې ټوټې یې کړم، هغهٔ زهٔ د خپلې نښې په
توګه ودرولم. ١٣ د هغهٔ غشی ویشتونکی زما نه تاو شول.
هغهٔ زما ګردې راوویستلې او په ما یې هیڅ رحم ونهٔ کړو، هغهٔ
زما تریخے په زمکه بهر وغورزولو. ١۴ هغهٔ زهٔ بیا مات
رامات کړم، هغهٔ د یو جنګیالی په شان په ما باندې رامنډه
کړه. ١۵ ما د ځان دپاره د ټاټ جامې ګنډلې دی، او هغهٔ زهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خاورې په شان ميده کړے يم. ١٦ زما سترګې د ژړا نه
سرې دى، او زما د سترګو ليمۀ تور شول. ١٧ اګر چې ما
هيڅ ظلم زياتے نۀ دے کړے، او زما په دُعا کښې خلوص
دے. ١٨ اے زمکې، زما وينه مۀ پټوه، او زما د اِنصاف
فرياد دې څوک نۀ ختموى. ١٩ خو بيا هم په آسمان کښې
داسې ذات شته چې هغه زما مل دے او هغه به بې‌شکه ووائى
چې زۀ په حقه يم. ٢٠ زما مينځګړے زما دوست دے او
زما سترګې خُدائ پاک ته اوښکې تويوى. ٢١ او زما دوست
زما دپاره خُدائ پاک سره بحث کوى لکه څنګه چې يو
سړے د خپل دوست دپاره مِنت زارى کوى. ٢٢ صِرف يو
څو کاله به پاتې وى چې زۀ به په هغه سفر باندې روان شم
چې د هغې نه واپس کېدل نشته.

## د حضرت ايُوب د خپل آرام دپاره دُعا کول

١٧ ١ زما زور ختم شوے دے او زما ورځې لنډې
شوې دى، او قبر زما دپاره تيار دے. ٢ زما نه ګېرچاپېره
مسخرې کوونکى راتاو دى، او زۀ ګورم چې هغوئ ما ته
سپکې خبرې کوى. ٣ اے خُدايه پاکه، تۀ زما ضمانت
وکړه، ځکه چې بل هيڅ څوک به زما ذمه وارى وانۀ خلى.
٤ ځکه چې تا د هغوئ په ذهنونو باندې پردې لګولې دى،
هغوئ مۀ پرېږده چې په ما غالب شى. ٥ څوک چې د
خپلې فائدې دپاره دوستان دوکه کوى، نو د هغوئ د اولاد
سترګې به ړندې شى. ٦ خُدائ پاک زۀ د خلقو دپاره د
خندا کړے يم، هغوئ زما په مخ باندې توکانړې توکى. ٧ د
غم په وجه زما سترګې سرې شوې دى، او زما بدن اوچ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کلک شوے دے. ۸ کله چې نېکان خلق ما وګورى نو په
لړزان شى، او بې‌ګناه خلق د خُدائ پاک نه د منکرو خلقو
مخالفت کوى. ۹ خو صادقان د خپلې لارې نه نۀ اوړى،
چې صادقان ورځ په ورځ نور هم تکړه کېږى. ۱۰ اوس
تاسو ټول چرته ما ته څۀ سمه خبره وکړئ، خو بيا به هم په
تاسو کښې يو هوښيار کس پېدا نۀ کړم. ۱۱ زما دوران تېر
شو او زما منصوبې ناکامه شوې، زما نه زما اُميدونه ختم
شول. ۱۲ هغوئ د شپې نه ورځ جوړوى، او رڼا ته تيارۀ
وائى. ۱۳ زۀ د مرګ په طمع يم، او زۀ به تل په تيارۀ کښې
پروت يم، ۱۴ کۀ زۀ قبر ته ووايم چې تۀ زما پلار يې، او
چينجو ته ووايم چې تاسو زما مور يا خور يئ، ۱۵ نو بيا زما
اُميد چرته دے؟ او دا چا ته ښکارى؟ ۱۶ نو زما ټول
اُميدونه به په قبر کښې فنا شى؟ او زما ټول ارمانونه به
خاورې شى څۀ؟"

## د بِلداد وينا

۱۸ ۱ بيا شوحى بِلداد جواب ورکړو، ۲ "تر کومې
پورې به تۀ خبرې کوې؟ د مطلب خبره کوه، نو بيا به مونږ
خبرې وکړُو. ۳ مونږ په څناورو کښې ولې شمېرلے شُو؟
مونږ ستاسو په نظر کښې ولې کم عقلان يُو؟ ۴ تۀ په غصه
کښې هسې خپل ځان سوزوې، ستا دپاره دې دُنيا پرېښودلے
شى څۀ، يا غرونه دې ستا دپاره د خپل ځائ نه لرې کړے
شى څۀ؟ ۵ په حقيقت کښې د بدعمله خلقو ډيوه ختمه
کړے شوې ده، او بيا به د هغې شُغلې بلې نۀ شى. ۶ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ په خيمه کښې رڼا په تيارهٔ بدله شوې ده، او د هغوئ
ډپاسه ډيوه مړه کړے شوې ده. ⑦ د هغوئ مضبوط
قدمونه خطا شوی دی، او د هغوئ خپلو منصوبو هغوئ
ناکامه کړی دی. ⑧ ځکه چې هغوئ په يو جال کښې انښتی
دی، او هغوئ په يوه کنده کښې پرېوځی. ⑨ د هغوئ پونده
په دام کښې ګېرېږی، او هغه يې کلک ونيسی. ⑩ يو جال په
زمکه کښې پټ دے، او د هغوئ په لاره کښې يو دام پټ
دے. ⑪ هغوئ د هر طرف نه يرېږی، او چې چرته هم ځی
نو يره ورپسې وی. ⑫ د هغوئ طاقت د لوږې په وجه ختم
شوے دے، او تباهی د هغوئ د غلطئ په انتظار کښې ده.
⑬ بيماری د هغوئ څرمن خوری، او مرګ د هغوئ
اندامونه خوری. ⑭ چې په کومو خېمو کښې هغوئ په
حِفاظت کښې وُو نو هغوئ ويستلے شوی دی، او هغوئ د
دهشت بادشاه ته راوستلے شوی دی. ⑮ د هغوئ په خېمو
کښې هيڅ څوک هم پاتې نهٔ دی، او د هغوئ د کورونو ډپاسه
د ګوګړو باران دے. ⑯ د هغوئ جرړې لاندې اوچې شوې
دی، او د هغوئ څانګې پاس مړاوې شوې دی. ⑰ د هغوئ
نوم به د زمکې نه ختم شی، او په لارو کوڅو کښې به د هغوئ
ذکر نهٔ کيږی. ⑱ هغوئ د رڼا نه تيارې ته ديکه کړے شوی
دی، او د دُنيا نه شړلے شوی دی. ⑲ د هغوئ اولاد نشته،
او د هغوئ د خاندان يو کس هم ژوندے پاتې شوے نهٔ دے.
⑳ د نمرخاتهٔ طرف نه واخله تر نمرپرېواتهٔ پورې چې
څوک هم د هغوئ د اَنجام نه خبرېږی، نو د يرې نه لړزيږی.
㉑ دوئ به وائی چې دا د بدعمله خلقو کور دے، د هغه چا
څوک چې د خُدائ پاک نه منکر وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت ایُوب جواب

١٩ ١ بیا ایُوب جواب ورکړو، ٢ ”تۀ به تر کومې
پورې ما له تکلیف راکوې، او په خپلو خبرو به زما زړۀ
غوڅوې؟ ٣ تا لس ځلې زما بې‌عزتی کړې ده، تۀ چې ما له
کوم تکلیف راکوې په هغې تۀ شرمیږې نۀ څۀ؟ ٤ او کۀ دا
رښتیا هم وی چې ما غلطی کړې ده، نو ستا په کښې څۀ کار
دے؟ ٥ تۀ په خپل نظر کښې زما نه لوئ یې، زما تکلیف د
ګناه د ثبوت دپاره استعمالوې. ٦ نو بیا پوهه شه چې
خُدائ پاک زۀ په غلطه کړے یم، او زما نه ګېرچاپېره یې
جال خور کړے دے. ٧ ګوره، زۀ د فریاد چغې هم وهم،
خو څوک ما له جواب نۀ شی راکولے، زۀ په زوره زوره
چغې وهم، خو اِنصاف نشته. ٨ خُدائ پاک زما لارې بندې
کړې دی او زۀ خوځېدے نۀ شم، او هغۀ زما په لار کښې
تیارې جوړې کړې دی. ٩ هغۀ زما نه عزت اخستے دے،
او زما د سر نه یې تاج اخوا کړے دے. ١٠ هغه د هر طرف
نه ما راغورزوی او زۀ ختم یم، هغۀ د ونې په شان زما د اُمید
جرړې راویستلې دی. ١١ هغه زما خِلاف سخت غصه
شوے دے، او هغه مې خپل دشمن ګڼی. ١٢ د هغۀ فوجیان
راغونډ شوی دی، هغوئ په ما باندې حملې دپاره لارې تیارې
کړې دی. او زما د خېمې نه ګېرچاپېره یې خېمې لګولې دی.
١٣ زما خپلوان ما نه ځان لرې ساتی، او زما دوستان زما
خلاف شوی دی. ١٤ زما خپلوانو او زما نزدې دوستانو زۀ
پرېښے او هېر کړے یم، ١٥ زما په کور کښې مېلمنو زۀ
هېر کړے یم، زما وینځې ما پردے سړے ګڼی، زۀ د هغوئ
په نظر کښې یو مسافر یم. ١٦ زۀ چې خپل نوکر راوغواړم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه ما له نۀ راځی، زۀ هغۀ ته سوال زاری کوم. ۱۷ زما د
خولې بوئ هم زما په ښځه باندې بد لګی، زما خپل خاندان
زما نه نفرت کوی. ۱۸ واړۀ ماشومان هم ما ته سپک
ګوری، کله چې زۀ هغوئ سره خبرې کول غواړم نو هغوئ
ما ته شا کړی. ۱۹ زما نزدې ملګری زما نه نفرت کوی، او
چې د چا سره ما مینه کوله نو هغوئ زما نه مخ اړولے دے.
۲۰ په ما کښې صرف هډوکی او څرمن پاتې دی او ډیر په
مشکله د مرګ نه تښتېدلے یم. ۲۱ اے زما دوستانو، په ما
باندې رحم وکړئ، په ما باندې رحم وکړئ، ځکه چې د
خُدائ پاک ګزار زۀ وهلے یم. ۲۲ تاسو د خُدائ پاک په
شان ولې ما پسې یئ، تاسو زۀ ښۀ نۀ یم کړولے څۀ؟ ۲۳
کاش چې زما خبرې لیکلے شوے وے، کاش چې زما
خبرې په یو کِتاب کښې بیان شوے وے. ۲۴ کاش چې د
اوسپنې او د پیتلو د قلم سره دا خبرې په یو ګټ باندې د تل
دپاره نقش شوے وے. ۲۵ زما یقین دے چې زما
خلاصونکے ژوندے دے، او چې په آخر کښې به هغه د
زمکې دپاسه ودرېږی، ۲۶ او چې کله زما څرمن بلکل ختمه
شی، نو بیا به زۀ په خپلو سترګو خُدائ پاک ووینم، ۲۷ زۀ
به هغه په خپله وګورم، او زۀ به هغه په خپلو سترګو ووینم.
ما سره صرف هم دغه فکر دے. ۲۸ ستا حق نۀ جوړېږی
چې ما له تکلیف راکوې، او وائې چې دا ستا خپله غلطی ده.
۲۹ د سزا نه پخپله یرېږه ځکه چې ستا رویه د سزا لائقه ده،
او بیا به تا ته پته ولګی چې حساب کِتاب شته.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د ضوفر وينا

۲۰ ۱ بيا ضوفر نعماتى ورته ووئيل، ۲ ”زما زړۀ وائى
چې جواب درکړم، ځکه چې ستا خبرو زۀ خفه کړے يم.
۳ تا چې څۀ وفرمائيل هغه زما بےعزتى ده، او زما زړۀ ما
ته وائى چې جواب درکړم. ۴ تا ته د ډېر وخت نه د دې پته
ده، د هغه وخت نه چې کله بنى آدم په زمکه پيدا شوے وو،
۵ د بدعمله کس کاميابى لنډه وى، او د خُدائ پاک نه
منکرو خلقو خوشحالى د لږ وخت دپاره وى. ۶ کۀ هغوئ
د آسمانونو پورې هم اوچت شوى وى، او د هغوئ سرونه
وريځو ته رسېدلى وى، ۷ هغوئ به د خپلو متيازو په شان
د تل دپاره ختم شى، چا چې هغوئ ليدلى وى نو هغوئ به
ووائى چې څۀ شول؟ ۸ هغوئ به د يو خوب په شان تېر
شى او ورک به شى، هغوئ به د شپې د خوب په شان فنا
شى. ۹ کومو خلقو چې هغوئ ليدلى وى نو هغه به يې نور
ونۀ ګورى، او چې چرته اوسېدل نو د هغه ځائ خلق به يې
ياد نۀ کړى. ۱۰ د هغوئ د اولاد نه به هغه مال دولت واپس
لاړ شى، چې کوم يې د غريبانانو نه اخستے وى. ۱۱ هغوئ
به په ځوانئ کښې مړۀ شى او په خاورو کښې به ښخ شى.
۱۲ په بدعملئ کښې خوند وى، او د دې خوند تر ډېر وخته
پورې وى. ۱۳ او د خوږ څيز په شان يې په خولۀ کښې د
ډېر وخت پورې ساتى، ۱۴ خو ناګهانه د هغوئ خوراک په
خېټه کښې تريخ شى، او د دې نه دننه زهر جوړ شى. ۱۵
هغوئ مال دولت تېر کړى خو بيا يې اولټئ کړى، خُدائ پاک
د هغوئ دولت د هغوئ د خېټې نه واپس راوغورزوى. ۱۶
هغوئ به د مارانو زهر وخورى، او زهرژن مار به هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووږنې. ۱۷ هغوئ به سيندونه ونهٔ ګورى، هغه نِهرونه چې
شات او پئ په کښې بهيږى. ۱۸ د هغوئ ناجائزه ګټه به د
هغوئ نه واپس وځى، او په مال دولت باندې به خوشحالى
ونهٔ کړى، ۱۹ ځکه چې هغوئ غريبانان وهلى دى او نهر يې
پرېښى دى، او د هغوئ کورونه يې قبضه کړى دى کوم چې
هغوئ نهٔ دى جوړ کړى. ۲۰ د هغوئ د حرص ختمېدل
نشته، چې په څهٔ خوشحاليږى نو د هغې نه به ورسره هيڅ
پاتې نهٔ شى. ۲۱ هغوئ چې څهٔ خورى نو د هغې نه هيڅ نهٔ
پاتې کيږى، نو په دې وجه د هغوئ مالدارى ختميږى. ۲۲
کله چې هغوئ ښهٔ کامياب وى، نو د غم چپې به په هغوئ
باندې راشى. ۲۳ چې کله هغوئ خپلې خېټې ډکې کړى نو
خُدائ پاک دې په هغوئ باندې سخت قهر راولى، او دا قهر
دې په هغوئ لکه د ږلۍ راوريږى. ۲۴ هغوئ به د اوسپنې د
وسلې نه تښتى، خو د زېړو په غشى به هغوئ ولګى. ۲۵ هغه
غشے د هغوئ د ملا نه وويستلے شى، او دا غشے په وينه
سور وى، يره به په هغوئ باندې راشى. ۲۶ د هغوئ خزانه
به په تکه توره تيارهٔ کښې پټه شى، يو داسې اور به هغوئ تباه
کړى چې هيڅا بل کړے نهٔ وى، او د هغوئ په کور کښې پاتې
هر څهٔ به تباه شى. ۲۷ آسمانونه به د هغوئ ګناه ښکاره
کړى، او زمکه به د هغوئ خِلاف ګواهى ورکوى. ۲۸ يو
سېلاب به د هغهٔ کور يوسى، د خُدائ پاک قهر به په هغوئ
سېلاب راولى. ۲۹ دا د خُدائ پاک د طرف نه د بدعمله
کسانو اَنجام دے، دا د هغوئ هغه ميراث دے چې د خُدائ
پاک د طرف نه يې فېصله شوې ده.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت ايُوب جواب

۲۱ ۱ بيا ايُوب جواب ورکړو، ۲ ”زما خبرې په غور
سره واورئ، او دا دې تاسو له تسلى درکړى. ۳ ما پرېږدئ
چې خبرې وکړم، او چې خبرې ختمې کړم نو بيا تاسو داړې
چينګولے شئ. ۴ زما شکايت د خُدائ پاک نه دے د
انسانانو نه نهٔ دے. او د دې بې‌صبرۍ ما سره ښهٔ سبب شته.
۵ ما ته وګورئ او حېران شئ، او ګوته په خولهٔ کښې
ونيسئ. ۶ کله چې زهٔ په دې سوچ وکړم نو خفه شم، او
زما په بدن لړزان راشى. ۷ بدعمله خلق ولې ژوندى وى،
او پوخ عُمر ته ورسيږى او طاقتور شى؟ ۸ د هغوئ بچى د
هغوئ په وړاندې ودان شى، او د هغوئ نمسى د هغوئ په
موجودګۍ کښې آباد شى. ۹ د هغوئ کورونه د يرې نه بچ
وى، او خُدائ پاک هغوئ له سزا نهٔ ورکوى. ۱۰ د هغوئ
غوَيے په مال کولو کښې هيڅکله نهٔ ناکامه کيږى، د هغوئ
غوا بچى راوړى او يو هم نهٔ ضائع کوى. ۱۱ د هغوئ
ماشومان د رَمو په شان ګرځى، او د هغوئ بچى د خوشحالۍ
نه ګډيږى. ۱۲ هغوئ د تمبل او د رباب سره سندرې وائى،
او د شپېلۍ د آواز سره خوشحالى کوى. ۱۳ هغوئ په
مالدارۍ کښې وخت تېروى، او په خېر سره قبر ته ځى. ۱۴
هغوئ خُدائ پاک ته وائى چې مونږ پرېږده. زمونږ زړهٔ نهٔ
غواړى چې ستا تابعدارى وکړُو. ۱۵ قادر خُدائ څوک دے،
چې مونږ د هغهٔ خِدمت وکړُو؟ او مونږ ته به څهٔ فائده
راورسيږى چې مونږ هغهٔ ته سوال وکړُو؟ ۱۶ خو هغوئ په
خپل محنت سره نهٔ دى مالداره شوى، د بدعمله کسانو
مشوره ما ته منظوره نهٔ ده. ۱۷ د بدعمله خلقو ډيوه څو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځلې مړه کړے شوې وه؟ او څو ځلې په هغوئ باندې تباهی
راغلې وه. خُدائ پاک څو ځلې په خپله غصه کښې سزا
ورکوی؟ ۱۸ هغوئ څو ځلې د هوا په مخکښې د خسنی په
شان شول، او څو ځلې د بوسو په شان طوفان یوړل؟ ۱۹ تهٔ
وائې چې، خُدائ پاک د هغوئ په وجه د هغوئ بچو له سزا
ورکوی. نو دا سزا دې هم هغوئ له ورکړے شی، چې پته
ورته ولګی. ۲۰ هغوئ دې په خپلو سترګو خپله تباهی
وګوری، او د قادر خُدائ غصه دې تېره کړی. ۲۱ دا ځکه
چې کله هغوئ مړهٔ شی نو دا فکر به ورسره نهٔ وی چې په
خاندان یې څهٔ کیږی. ۲۲ څوک خُدائ پاک ته ښودنه کولے
شی، هغه خُدائ پاک ته چې د غټو مرتبو لرونکو خلقو هم
عدالت کوی؟ ۲۳ څوک چې ښهٔ په مالدارۍ کښې مړ شی،
هغه په آرام او حِفاظت کښې وی، ۲۴ هغوئ ښهٔ صحتمند
وی، او ښهٔ غټ او تکړه وی. ۲۵ بل کس په سخته غریبۍ
کښې مړ شی، او هیڅکله یې ښهٔ ورځ نهٔ وی لیدلې. ۲۶
هغوئ ټول یو شان مری او په خاورو کښې ښخیږی، او
هغوئ ټول د چینجو خوراک شی. ۲۷ ګوره، ما ته ستا د
سوچونو پته ده، او ما ته زما خِلاف ستا د منصوبو پته ده.
۲۸ تهٔ به ما ته د مالدارو او بدعمله خلقو په حقله ووائې، د
چا کورونه چې د هغوئ د ګناهونو په وجه تباه شوی دی.
۲۹ خو تاسو هلته د موجودو خلقو نه تپوس ونهٔ کړو، او د
هغوئ ګواهی مو ونهٔ منله. ۳۰ چې بدعمله کسان د مصیبت
په وخت کښې خلاص شی، او د قهر په ورځ بچ کیږی. ۳۱
څوک شته چې مخامخ وربانديې تنقید وکړی، او چې د خپل
عمل بدله ورکړی؟ ۳۲ کله چې هغوئ قبرستان ته یوړلے
شی، نو خلق به د هغوئ د قبر خیال ساتی. ۳۳ زرګونه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کسان د هغوئ په جنازه کښې شريک شی، او د عزت سره
خاورو ته وسپارلے شی. ۳۴ نو بيا به تهٔ ما له په تشو خبرو
باندې څنګه تسلی راکړې؟ ستا هر يو جواب د دروغو نه ډک
دے.“

## د اليفز وينا

۲۲ ۱ بيا تيمانی اليفز جواب ورکړو، ۲ ”بنی آدم
خُدائ پاک له څهٔ فائده ورکولے شی؟ د ټولو نه هوښيار کس
هم د هغهٔ مدد کولے شی څهٔ؟ ۳ د قادر خُدائ دپاره به څهٔ
خوشحالی وی کهٔ تهٔ صادق شې، کهٔ ته خپل عملونه صفا
کړې نو هغهٔ له به څهٔ فائده ورکړی؟ ۴ چې تهٔ پرهيزګار يې
نو ځکه هغه په تا اِلزام لګوی او ولې ستا خِلاف د عدالت نه
کار اخلی څهٔ؟ ۵ نه، هغه وجه ده چې ستا بدعملی زياته ده
او ستا د ګناهونو ختمېدل نشته. ۶ لکه چې تا د خپلو
وروڼو نه د قرض پيسې په زور اخستې دی، او تا د هغوئ نه
جامې ويستې دی او بربنډ دې پرېښې دی. ۷ تا تږو کسانو
له اوبهٔ نهٔ دی ورکړې، او تا د نهَرو کسانو نه روټئ ايساره
کړې ده. ۸ تا د خپل طاقت او حيثيت نه کار واخستلو او
په ټول مُلک دې قبضه وکړه. ۹ تا کونډې تش لاس لېږلې
دی، او يتيمان دې نااُميده کړی دی. ۱۰ نو په دې وجه ستا
نه ګېرچاپېره دامونه دی، او يوه ناڅاپه يره به په تا باندې
غالبه شی، ۱۱ يا يوه داسې تيارهٔ چې تهٔ نور هيڅ نهٔ شې
ليدلے، د اوبو يو سېلاب به تا پټ کړی. ۱۲ پاس په
آسمانونو کښې خُدائ پاک نشته څهٔ؟ پاس ستوری وګوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خومره اوچت دی. ۱۳ نو دا ځکه ته وائې چې ته څۀ
کوې نو خُدائ پاک ته پته نۀ لګی، هغه په توره وريځ کښې
پټ دے نو هغه څنګه عدالت کولے شی؟ ۱۴ تکه توره وريځ
د هغۀ نه تاو شی نو هغه کتل نۀ شی کولے، او هغه په عرش
باندې مزل کوی. ۱۵ تۀ به په هغه زړو لارو ځې څۀ، چې په
کومو باندې بدعمله کسان تلل؟ ۱۶ د هغوئ دوران راتلو نه
مخکښې سېلاب هغوئ لاهو کړل. ۱۷ هغوئ خُدائ پاک ته
وئيلی وُو چې زمونږ نه قلار شه، او داسې يقين يې لرلو چې
قادر خُدائ د هغوئ هيڅ هم نۀ شی کولے. ۱۸ خو بيا هم
هغه خُدائ پاک وو چې دوئ يې مالداره کړل، نو ځکه زۀ د
بدعمله خلقو په خيالونو هيڅ غرض نۀ ساتم. ۱۹ صادقان د
بدعمله تباهی ګوری او خوشحالېږی، خو بې‌ګناه کسان دوئ
پورې خندا کوی. ۲۰ وائی چې زمونږ دشمنان څنګه تباه
شوی دی، او چې د هغوئ څۀ پاتې وُو هغه اور تباه کړی دی.
۲۱ خُدائ پاک ته خپل ځان حواله کړئ، او د هغۀ سره
روغه وکړئ، او ستاسو هر کار به سم وی. ۲۲ د هغۀ په
تعليماتو عمل کوئ، او د هغۀ خبرې زړۀ ته کوزې کړئ. ۲۳
کۀ تاسو قادر خُدائ ته راواپس شئ، نو تاسو به په خپل ځائ
باندې بيا ولګئ، کۀ تاسو د خپل ژوند نه بدی وباسئ، ۲۴ کۀ
تاسو سرۀ زر خاورې وګڼئ، او د اوفير سوچه سرۀ زر د
سيند د کاڼو په شان وګڼئ، ۲۵ نو بيا قادر خُدائ په خپله
ستاسو د سرو زرو په شان دے او هغه ستاسو قيمتی سپين
زر دے. ۲۶ نو بيا به تاسو د قادر خُدائ سره خوشحاله
اوسئ، او د زړۀ نه به هغۀ سره ملاقات کولے شئ. ۲۷ نو
تاسو به هغۀ ته سوال وکړئ او هغه به ستاسو سوال قبول
کړی، او تاسو به خپل قسمونه پوره کړئ. ۲۸ تاسو به په هر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار کښې کامیاب يئ، او ستاسو لار به روښانه وی. ۲۹ کله
چې خُدائ پاک خلق کمزوری کړی نو تهٔ وائې دا ځکه چې
هغوئ مغروره وُو، خو په اصل کښې خُدائ پاک خلق په دې
طریقې سره بچ کوی. ۳۰ ځکه چې خُدائ پاک بې ګناه خلق
بچ کوی، کهٔ چرې تهٔ بې ګناه يې نو هغه به تا هم بچ کړی.“

## د حضرت ایُوب جواب

۲۳ ۱ بیا ایُوب جواب ورکړو، ۲ ”زما شکایت په دې
وخت کښې هم سخت دے، زهٔ سلګۍ وهم او خُدائ پاک بیا
هم ما له سزا راکوی. ۳ کاش چې ما هغه موندلے شوے،
نو زهٔ به د هغهٔ دربار ته تلے وم. ۴ زهٔ به خپله مسئله هغهٔ
ته وړاندې کړم، او د هغهٔ په حضور کښې به ټول عرضونه
پېش کړم. ۵ چې هغه ما له څهٔ جواب راکوی نو زهٔ به
ورته غوږ ونیسم، او چې څهٔ راته وائی په هغې باندې به ځان
پوهه کړم. ۶ د دومره لوئ طاقت سره به هغه زما مخالفت
کوی څهٔ؟ خو نه داسې نهٔ ده، هغه به زما خبره په توجو سره
واوری. ۷ یو نېک سړے د هغهٔ سره د خبرو کولو حق
لری، او زما قاضی خُدائ پاک به مې د تل دپاره بې ګناه
وګرځوی. ۸ ګوره چې زهٔ مخکښې ورشم نو هلته هم نهٔ
وی او کهٔ شاته لاړ شم نو هلته هم نهٔ وی، ۹ نهٔ يې په ښی
طرف موندے شم او نهٔ يې په ګس طرف موندے شم. ۱۰
خو هغهٔ ته د هغې لارې پته ده چې کومه ما اختیار کړې ده،
او کله چې هغه ما وآزمائی نو زهٔ به د سرو زرو په شان صفا
یم. ۱۱ زهٔ د هغهٔ په نقشِ قدم روان وم، او زهٔ هیڅکله د هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د لارې نه نۀ یم اوړېدلے. ۱۲ زۀ تل د هغۀ په حُکمونو عمل
کوم، ما د هغۀ کلام د خپل ضروری خوراک نه هم زیات
قیمتی گڼلے دے. ۱۳ خو هغه بدلېدونکے نۀ دے، نو د هغۀ
فېصله څوک بدلولے شی؟ چې د هغۀ څۀ رضا وی نو هم
هغه کوی. ۱۴ هغه چې زما دپاره کومه منصوبه لری نو هغه
به پوره کوی، او هغه زما دپاره ډېرې منصوبې لری. ۱۵ نو
په دې وجه زۀ د هغۀ په حضور کښې یرېږم، کله چې زۀ په
دې سوچ کوم نو په یره کښې راګېر شم. ۱۶ خُدائ پاک زۀ
بې‌زړۀ کړے یم، او قادر خُدائ زۀ یرولے یم، ۱۷ خو زۀ په
تیارۀ کښې راګېر یم، او تکه توره تیارۀ زما نه راتاو ده.

## د حضرت ایُوب په دُنیا کښې د ظلم شکایت کول

۲۴ ۱ قادر خُدائ د عدالت دپاره وخت ولې نۀ
مقرروی؟ او د خُدائ پاک منونکی دا ولې نۀ ګوری چې هغه
د ګناهګارانو عدالت کوی؟ ۲ بدعمله کسان د حد د پولې
کاڼی لرې کوی، هغوئ څاروی پټ کړی او د خپلو رَمو سره
یې څروی. ۳ هغوئ د یتیم خر بوځی، او هغوئ د کونډې
غوَیے په ضمانت کښې بوځی. ۴ هغوئ ضرورتمند د
سړک نه دیکه کوی، او غریبانان دې ته مجبوروی چې ځان
پټ کړی. ۵ غریبانان لکه د ځنګلی خرونو په شان په
صحرا کښې خوراک لټوی، هغوئ د خپلو بچو دپاره په بل
ځائ کښې خوراک نۀ شی پیدا کولے. ۶ هغوئ پردے
پټے ریبی او هغوئ د بدعمله خلقو د انګورو په باغونو کښې
پاتې شوی انګور راټولوی. ۷ په یخنۍ کښې هغوئ ټوله شپه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بربنډ پراتهٔ وی، او په ځان اچولو دپاره ورسره هیڅ هم نهٔ
وی. ۸ هغوئ په غرونو کښې په بارانونو سره لامدهٔ وی، او
په کاڼو کښې پناه اخلی. ۹ بدعمله خلق د کونډې ماشوم د
تی نه په زور لرې کوی، او د غریب ماشوم په ضمانت کښې
یوسی. ۱۰ غریبانان د جامو نه بغېر بربنډ ګرځی، او په نهَرو
کولمو د خلقو رېبلے شوی ګېډۍ اوړی، ۱۱ د زیتُونو د ونو
نه تېل وباسی خو د څَکلو اجازت ورته نهٔ وی، هغوئ انګور
نچوړوی خو په خپله تږی وی. ۱۲ چې څوک مری د هغوئ
فریادونه په ښار کښې اورېدے شی، او مالدار خلق چې
غریبانانو سره کوم ظلم زیاتے کوی نو خُدائ پاک ورته هیڅ
توجو نهٔ ورکوی. ۱۳ هلته هغه څوک دی کوم چې د رڼا
خِلاف بغاوت کوی، او هغوئ د دې روښانه لارې نه خبر نهٔ
دی نو ځکه هغوئ بې‌لارې شی. ۱۴ قاتِل سحر وختی راپاڅی
چې غریب او ضرورتمند ووژنی، او په تیارهٔ کښې غلا کوی.
۱۵ زناکار هم د تیارې په اِنتظار کښې وی، خیال یې دا وی
چې د هیچا به په ما باندې نظر نهٔ وی، او هغه مخ پټوی چې
څوک مې ونهٔ پېژنی. ۱۶ د شپې په وخت کښې غلهٔ د
کورونو کنډرې کوی، او د ورځې خوبونه کوی، او رڼا ته نهٔ
راوځی. ۱۷ ځکه چې توره شپه د هغوئ دپاره سحر دے، او
هغوئ د تورې تیارې د یرې سره عادت دی. ۱۸ هغوئ د
اوبو په سر د زګ په شان فانی وی، د هغوئ په زمکه لعنت
وئیلے شوے دے نو په دې وجه خلق د انګورو باغونو ته نهٔ
ځی. ۱۹ قبر ګناه ګار داسې غپبوی لکه چې اوچ کالی او
ګرمی واوره غپبوی. ۲۰ د هغوئ خپله مور به هغوئ هېر
کړی، او چینجو ته به هغوئ خوارهٔ ښکاره شی، او نور به
څوک هغوئ نهٔ یادوی، نو بدعمله خلق داسې راپرېوځی لکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په طوفان کښې ونه راپرېوځی. ۲۱ هغوئ د بې‌اولاده
مور سره تېگی کوی، او د کونډې سره ښهٔ نهٔ کوی. ۲۲ خو
خُدائ پاک طاقتور خلق د خپل قوت سره برباد کړی،
کېدے شی چې هغوئ د لږ وخت دپاره کامیاب شی خو د
هغوئ ژوند څهٔ اعتباری نهٔ وی. ۲۳ کېدے شی چې هغه
ورله امن ورکړی چې په حِفاظت سره ژوند تېروی، خو
هغوئ د خُدائ پاک د نظر لاندې وی. ۲۴ د لږ وخت دپاره
بدعمله مالداره وی، خو هغوئ بیا د واښو په شان اوچ شی،
هغوئ د فصل د سرونو په شان پرې کړے شی. ۲۵ کهٔ
داسې نهٔ وی نو څوک به ما دروغژن ثابت کړی، او چې
ښکاره کړی چې زهٔ څهٔ وایم نو هغه تشې خبرې دی؟“

## د بِلداد وینا

۲۵ ۱ بیا شوحی بِلداد جواب ورکړو، ۲ ”اختیار او
یره د خُدائ پاک سره دی، هغه په آسمانی بادشاهئ کښې
امن قائموی. ۳ د هغهٔ آسمانی لښکر څوک شمارلے شی؟
د هغهٔ رڼا په چا باندې نهٔ ځلیږی؟ ۴ نو بنی آدم د خُدائ
پاک په مخکښې څنگه صادق کېدے شی؟ څوک چې د مور
نه پېدا شوے وی نو هغه کس څنگه صفا کېدے شی؟ ۵
گوره، د هغهٔ په وړاندې ځلېدونکی سپوږمئ او ستوری هیڅ
هم نهٔ دی. ۶ نو بیا انسان څهٔ څیز دے یو مېږے کهٔ یا یو
چینجے؟ د خُدائ پاک په نظر کښې د یو انسان څهٔ اهمیت
دے؟“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت ایُوب جواب

۲۶ ۱ بیا ایُوب جواب ورکړو، ۲ ”تا د هغه چا مدد
څنګه وکړو چې هیڅ طاقت یې نهٔ وو. تا هغه کس څنګه بچ
کړو چې هیڅ زور یې نهٔ وو. ۳ تا یو کم عقل کس له څنګه
مشوره ورکړه، او نصیحت دې ورته وکړو. ۴ ستا څهٔ
خیال دے چې څوک به ستا خبرې اورى، او تا ته دا خبرې
چا ښودلی دی؟“ ۵ ”د زمکې لاندې په اوبو کښې د مړو
روحونه لړزیږی. ۶ د مړو دُنیا خُدائ پاک ته ښکاره ده، او
د تباهۍ ځائ پټ نهٔ دے. ۷ خُدائ پاک آسمان خور کړے
دے، او زمکه یې بغیر د څهٔ څیز نه راځوړنده کړې ده. ۸
هغه اوبهٔ په خپله تینګه وریځ کښې راغونډوی، او وریځ د
دروند والی په وجه نهٔ شلیږی. ۹ هغه د سپوږمۍ مخ پټوی،
او په دې باندې د هغهٔ وریځې خوَرې شی. ۱۰ هغهٔ د اوبو
دپاسه د آسمان لمن جوړه کړه، هغهٔ د رڼا او تیارې په مینځ
کښې حد مقرر کړو. ۱۱ د آسمان بنیادونه ولړزیږی، او دا د
هغهٔ په رټنه باندې ودرزیږی. ۱۲ د خپل طاقت په ذریعه هغهٔ
سمندر قلار کړو، او د خپلې پوهې په ذریعه یې سمندری بلا
تباه کړه. ۱۳ د هغهٔ د ساه په ذریعه آسمان ښائسته شو، او
د هغهٔ لاس تښتېدونکې بلا وشلوله. ۱۴ دا د هغهٔ د طاقت
معمولی کارنامې دی، دا د یو معمولی آواز په شان دے چې
مونږ اورېدلے وی. خو داسې څوک شته چې ورته د هغهٔ د
دروند آواز د زور پته لګی؟“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت ایُوب آخری بیان

۲۷ ۱ ایُوب خپله خبره جاری وساتله، ۲ ”زۀ په
ژوندی خُدائ پاک قسم خورم، چا چې زما حقُونه اخستی
دی، او هغه قادر خُدائ چا چې زما ژوند تریخ کړے دے،
۳ چې ترڅو پورې زۀ ژوندے یم او چې د خُدائ پاک روح
په ما کښې وی، ۴ نو زما ژبه به غلطې خبرې ونۀ کړی، او
زما ژبه به دروغ ونۀ وائی. ۵ زۀ به هیڅکله دا ونۀ وایم چې
تۀ په حقه یې، ترڅو پورې چې مړ شوے نۀ یم نو صداقت به
ما کښې وی. ۶ زۀ به دا دعویٰ هیڅکله پرې نۀ ږدم چې زۀ
بې‌ګناه یم، ځکه چې ټول عُمر زما ضمیر صفا دے. ۷
څوک چې زما مخالفت کوی یا ما سره جګړې کوی نو
هغوئ ته دې د ګناهګارو او بدعملو په شان سزا مِلاو شی.
۸ ځکه چې د خُدائ نه د منکرو خلقو اُمید به څۀ وی چې
کله هغوئ د ژوند نه لاس ووینځی، کله چې خُدائ پاک د
هغوئ نه ژوند واخلی؟ ۹ چې کله مصیبت په هغوئ باندې
راشی نو خُدائ پاک به د هغوئ ژړا اوری څۀ؟ ۱۰ هغوئ به
د قادر خُدائ سره خوشحاله شی څۀ؟ هغوئ به هر وخت
خُدائ پاک ته آواز کولے شی څۀ؟ ۱۱ زۀ به تا ته د خُدائ
پاک د طاقت په حقله ښودنه وکړم، څۀ چې د قادر خُدائ
سره وی نو زۀ به هغه نۀ پټوم. ۱۲ تاسو دا هر څۀ په خپله
لیدلی دی، خو بیا هم تاسو ما ته دا فضول خبرې کوئ؟“ ۱۳
”دا د خُدائ پاک سره د بدعمله کسانو برخه ده، او دا هغه
میراث دے چې ظالمانو ته د قادر خُدائ د طرف نه
ملاویږی، ۱۴ کۀ د هغوئ اولاد ډېر هم وی، خو د هغوئ
بچی به په جنګ کښې او د لوږې نه مړۀ شی. ۱۵ څوک چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتې وی نو هغوئ به په ویا مړۀ شی، او د هغوئ کونډې به هم
په هغوئ باندې ژړا ونۀ کړی. ۱۶ هغوئ سره سپین زر د
خاورو نه زیات دی، او بېحسابه جامې ورسره دی، ۱۷
هغوئ به دا رایوځائ کړی، خو نېکان به دا واغوندی، او
بېګناه کسان به سپین زر په خپلو کښې تقسیم کړی. ۱۸
بدعمله کسان خپل کورونه د جالو په شان داسې کمزوری
جوړوی، لکه چې څوکیداران څپر جوړوی. ۱۹ هغوئ به د
دولت سره څملی، خو چې سترګې وغړوی، نو مال به یې
ختم وی. ۲۰ یره د سېلاب په شان په هغوئ باندې غالبه
شی، او د شپې طوفان یې یوسی. ۲۱ د نمرخاتۀ طرف هوا
هغوئ اوچت کړی او هغوئ ختم شی، او دا هوا یې په مخه
یوسی. ۲۲ دا په بېرحمئ سره په هغوئ باندې راوغورزیږی،
اګر چې هغوئ د تښتېدو پوره کوشش کوی. ۲۳ هوا په
هغوئ پسې داسې شور جوړوی لکه چې سړے په چا پورې
خندا کوی.“

## د عقل او حِکمت په حقله د حضرت اِیُوب بیان

۲۸ ۱ ”بېشکه چې د سپینو زرو یو کان وی، او د سرو
زرو د صفا کولو دپاره یو ځائ وی. ۲ اوسپنه د زمکې نه
راویستلے شی، او د کانړو نه ویلې شوې تانبه راوځی. ۳
انسان په تیارۀ کښې رڼا ځلوی، او د دُنیا آخری حد
معلوموی، او د زمکې لاندې په تیارۀ کښې قیمتی کانړی لټوی.
۴ هغوئ د انسان د اوسېدو نه لرې په زمکه کښې
سورنګونه جوړوی، هغوئ په کان کښې په پړو باندې کوزیږی
او خېژی. ۵ په دې زمکه پاس خوراک لوئیږی خو دا زمکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاندې داسې ده لکه د اور. ٦ د دې زمکې په کاڼو کښې نيلم
شته، او د دې په خاوره کښې سرۀ زر پراتۀ دى. ٧ د هغه
خزانې لار يو ښکارى مارغۀ ته هم نۀ ده معلومه، او نۀ باز
هغه ليدلې ده. ٨ ځنګلى ځناورو په هغې باندې قدم نۀ دے
اېښے، او زمرے په هغې باندې تېر شوے نۀ دے. ٩ بنى
آدم په سختو کاڼو کښې کار کوى، او د غرونو بېخونه اړَوى.
١٠ هغوئ په کاڼو کښې سورنګونه جوړوى، او هغوئ قيمتى
کاڼى پېدا کوى. ١١ هغوئ د دريابونو بېخونه لټوى، او هغوئ
پټ څيزونه رڼا ته راوباسى. ١٢ خو هغوئ ته پته نشته چې
حِکمت به چرته ملاوېږى؟ او د پوهې ځائ چرته دے؟ ١٣
بنى آدم د دې د قيمت نه خبر نۀ دے، او دا په دې دُنيا کښې
نۀ ملاوېږى. ١٤ سمندر وائى چې دا په ما کښې نشته، او
درياب وائى چې دا په ما کښې نشته. ١٥ نۀ دا په سپينو زرو
اخستلے شى، او نۀ دا په سرو زرو اخستلے شى. ١٦ د
اوفير سرۀ زر د دې قيمت نۀ شى پوره کولے، نۀ يې اونيکس
کاڼى او نۀ يې نيلم کاڼى پوره کولے شى. ١٧ سرۀ زر او
قيمتى کاڼى د حِکمت برابر نۀ شى کېدے، او نۀ دا د سوچه
سرو زرو په کالو باندې بدلولے شى. ١٨ مرجان او بلور
غمى هيڅ هم نۀ دى، د حِکمت قيمت د ملغلرو نه اوچت
دے. ١٩ د ايتهوپيا طوپاز د دې برابر نۀ دے، او نۀ سوچه
سرۀ زر د دې قيمت پوره کولے شى. ٢٠ نو بيا حِکمت د
کوم ځائ نه راځى؟ او د پوهې مقام چرته دے؟ ٢١ دا د ټول
مخلوق د سترګو نه پناه دے، او د هوا د مارغانو نه پټ دے.
٢٢ په عالمِ ارواح کښې صرف د دې افواه اورېدلے شوې
ده. ٢٣ صرف خُدائ پاک د حِکمت په طريقه پوهه دے، او
هغۀ ته د دې د مقام پته ده. ٢٤ ځکه چې هغه ټولې دُنيا ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګوری، او هغه د آسمانونو لاندې هر يو څيز وينی. ٢٥ کله
چې هغۀ هوا ته طاقت ورکړو، او په وريځو کښې يې باران
کېښودو، ٢٦ کله چې هغۀ د باران دپاره اصُول مقرر کړل،
او د تندر دپاره يې يوه لاره مقرره کړه، ٢٧ بيا هغۀ حِکمت
وليدو او د دې اندازه يې واخستله، هغۀ دا تيار کړو او ښۀ يې
وکتلو. ٢٨ او هغۀ بنيادمو ته وفرمائيل، چې د مالِک خُدائ
نه يره کښې حِکمت دے، او بدعملۍ پرېښودل عقلمندی ده.“

## د حضرت ايُوب خپله صفائی پېش کول

٢٩ ١ ايُوب خپله خبره بيا شروع کړه او وې فرمائيل،
٢ ”کاش چې تېر عُمر زما بيا راغلے وے، چې په کوم
وخت کښې د خُدائ پاک په ما باندې نظر وو، ٣ هغۀ ما ته
رڼا کړه کله چې زۀ په تيارۀ کښې ګرځېدم. ٤ کله چې زۀ
په ځوانئ کښې وم، او د خُدائ پاک د دوستئ نظر زما په
کور باندې وو، ٥ کله چې قادر خُدائ زما مل وو، او زما
بچی زما نه ګېرچاپېره تاو وُو، ٦ کله چې ما کره پئ ډېر
تېر وُو، او ما کره تېل د نِهرونو په شان بهېدل. ٧ کله چې
زۀ د ښار دروازې ته تلم، او د جرګې په ځائ کښې به د
عزتمندو مشرانو سره کښېناستم، ٨ نو ځوانان به پاڅېدل
او لا به ړل، او بوډاګان به اوچت شول او ويه درېدل، ٩
مشران خلق به چپ شول، او په خپلو خُلو به يې لاسونه
کېښودل. ١٠ د خانانو آوازونه به غلی شول، او د هغوئ د
خولې نه به يوه خبره هم نۀ وتله. ١١ هر چا به چې زما په
حقله اورېدل نو هغوئ به زما صِفت کولو. چې هر چا به زۀ
ليدلم نو هغوئ به زما ښۀ وئيل. ١٢ کله به چې غريبانانو څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوښتل نو ما به يې مدد کولو، او د حاجتمندو يتيمانانو
مرسته به مې کوله. ۱۳ چې څوک به سخت غمژن وُو نو
هغوئ به زما ښهٔ وئيل، او زما په وجه به کونډو د خوشحالۍ
سندرې وئيلې. ۱۴ ما د صداقت هر يو کار کولو، اِنصاف
او صداقت د يوې چُوغې او د پټکی په شان وو. ۱۵ زهٔ د
ړندو دپاره سترګې وم، او د ګوډيانو دپاره پښې وم. ۱۶ زهٔ د
ضرورتمندو د پلار په شان وم، او د مسافرو مرسته به مې
کوله. ۱۷ ما د ظالمانو ژامنې ماتې کړې، او د هغوئ نه مې
مظلومان خلاص کړل. ۱۸ زما خيال دا وو چې ډېر عُمر به
ژوندے يم او په آرام سره به په کور کښې مړ شم. ۱۹ زهٔ د
داسې ونې په شان وم چې جرړې يې اوبو ته رسېدلې وی او
څانګې يې ټوله شپه په پرخه لامدې وی. ۲۰ خلقو به هر
وخت زما صِفت کولو او زما په متو به لا هم زور زياتېدو.
۲۱ هر چا به زما نصيحت اورېدو، او په خاموشۍ سره به
زما د خبرې په انتظار کښې ناست وُو. ۲۲ کله چې ما
خبرې وکړې نو هغوئ بيا څهٔ ونهٔ وئيل، او زما خبرې په
هغوئ لکه د شاتو لګېدې. ۲۳ هغوئ زما د خبرو داسې
اِنتظار کولو لکه چې د باران اِنتظار کوی، په هغوئ باندې
زما خبرې د سپرلی د باران په شان لګېدې. ۲۴ کله چې
هغوئ بې‌حوصلې وُو نو ما د هغوئ ډاډګيرنه کوله، او زما په
وجه د هغوئ حوصله مضبوطه شوه. ۲۵ ما د مشر په شان
هغوئ ته وښودل چې څهٔ به کوی، زهٔ د لښکر د بادشاه په
شان د هغوئ سره اوسېدم، او غمژنو له مې تسلی ورکوله.

۳۰ ۱ اوس زما نه کشران هم په ما پورې خندا کوی، او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا هغه کشران دی چې د چا پلاران هم زما د رَمو د سپو برابر
نۀ وو. ۲ د هغوئ طاقت به ما له څۀ فائده راکړې؟ د
هغوئ ټول زور ختم شوے دے. ۳ هغوئ دومره غريبانان
او اوږى وُو چې د شپې به يې په صحرا کښې د بوټو جرړې
خوړلې. ۴ هغوئ د صحرا نه بوټى راويستى دى او خوړلى
يې دى، د هغوئ خوراک د جاړو بوټو جرړې دى. ۵ هغوئ
د معاشرې نه شړلے شوى دى، او خلق په هغوئ پسې داسې
چغې وهى لکه چې دوئ غلۀ وى. ۶ هغوئ د اوچو شوو
دریابونو په مېدانونو کښې ژوند تېروى، او د زمکې په غارونو
او ګټو کښې اوسېږى. ۷ هغوئ د غنو بوټو لاندې غورېږى،
او د جاړو بوټو لاندې به راغونډېږى. ۸ هغوئ بې‌غېرته او
بې‌اصله دى، او د مُلک نه شړلے شوى دى. ۹ او اوس
هغوئ په ما پورې په سندرو کښې خندا کوى، زۀ د هغوئ په
سندرو کښې سپک يادېږم. ۱۰ هغوئ زما نه نفرت کوى او
هغوئ ما سره هيڅ تعلق نۀ لرى، او ښۀ په زړۀ ورتيا زما په
مخ توکانړى تُوکى. ۱۱ ځکه چې خُدائ پاک زۀ کمزورے او
عاجز کړے يم، نو ځکه هغوئ زما ادب نۀ کوى. ۱۲ زما په
مخکښې خلق راپاڅى او ومې غورزوى او زما په لار کښې
دامونه اچوى. ۱۳ هغوئ زما لار بندوى، او هغوئ زما د تباه
کولو دپاره هر څۀ کوى، هغوئ ته پته ده چې زما د تپوس
کولو والا څوک نشته. ۱۴ هغوئ په ما باندې د هر طرف نه
راشى، کله چې زۀ لاندې يم نو هغوئ په ما باندې راټوپ
کړى. ۱۵ اوس زۀ په يره کښې اوسېږم، او زما عزت هوا
اوړے دے، او زما مال دولت د وريځو په شان فنا شوے
دے. ۱۶ او اوس زما روح زما نه وتلے دے، او د مصيبت
په وخت کښې راګېر يم. ۱۷ شپه زما د هډوکو دپاره د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دردونو سبب ګرځی، او چې کوم درد ما خوری په هغې کښې
هيڅ کمے نۀ راځی. ١٨ خپل زورَور لاس سره خُدائ پاک
زما جامې نيولې دی، هغۀ زۀ زما د چُوغې د غاړې نه نيولے
يم. ١٩ هغۀ زۀ ختو ته غورزولے يم، او زۀ د خاورو او ايرو
په شان شوے يم. ٢٠ زۀ تا ته فرياد کوم او تۀ زما فرياد نۀ
اورې، زۀ ستا په وړاندې ودرېږم خو تۀ ما ته ګورې قدرې هم
نه. ٢١ تا ما سره زياتے شروع کړے دے، او د خپل طاقت
سره ما له تکليف راکوې. ٢٢ تا زۀ په هوا باندې اوچت
کړے يم، او په طوفان کښې دې تباه کړے يم. ٢٣ ما ته پته
ده چې تۀ به ما مرګ له بوځې، هغه کور ته کوم چې د ټولو
ژوندو دپاره تيار شوے دے. ٢٤ څوک د ضرورتمندو
خِلاف کار نۀ کوی، کله چې په يو مصيبت کښې هغوئ د
مدد دپاره چغې وهی. ٢٥ څوک چې په تکليف کښې وُو ولې
ما د هغوئ دپاره ژړا ونۀ کړه څۀ؟ او زما زړۀ په غريبانانو
باندې خفه نۀ وو څۀ؟ ٢٦ خو کله چې ما د ښۀوالی لټون
وکړو، نو بدوالے راغلو، او کله چې ما د رڼا اِنتظار وکړو، نو
تيارۀ راغله. ٢٧ زما زړۀ بےقراره او په تکليف دے، او
سخت وخت په ما باندې راغلے دے. ٢٨ زۀ په داسې تيارۀ
کښې ګرځم چې رڼا نۀ وی، زۀ د خلقو په مخکښې ودرېږم او
د مدد دپاره چغې وهم. ٢٩ زۀ د ګيدړانو ورور يم، او د
ګونګا ملګرے يم. ٣٠ زما څرمن توره شی او وغورزيږی،
او زما بدن د تبې په وجه سور وی. ٣١ زما د رباب ساز په
ژړا بدل شوے دے، او زما د شپېلۍ آواز د ژړا نه ډک دے.

## ٣١

١ ما د خپل ځان سره يو لوظ کړے دے چې يوې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېغلې ته به هم په غلط نظر باندې نهٔ ګورم. ۲ پاس په
آسمان کښې خُدائ پاک به زما دپاره څهٔ کوی، او په قادر
خُدائ کښې به زما میراث څهٔ وی؟ ۳ افت په ګناهګارو
خلقو نهٔ راغورزېږی څهٔ، او مصیبت په هغه خلقو چې څوک
بدعمله وی؟ ۴ زهٔ چې څهٔ هم کوم نو هغهٔ ته پته ده، او زما
په هر قدم باندې یې نظر دے. ۵ ما کله چا ته دروغ وئیلی
دی څهٔ، او یا مې چا له دوکه ورکړې ده څهٔ؟ ۶ نو زهٔ دې
د اِنصاف په تله کښې وتللے شم، چې خُدائ پاک ته زما د
صداقت پته ولګی. ۷ کهٔ زما قدم د هغهٔ د لارې نه
اوړېدلے وی، او زما زړهٔ زما د سترګو په خواهش پسې تلے
وی، یا کهٔ د څهٔ بل څهٔ ګناه شوی وی، ۸ نو ما پرېږده چې
څهٔ وکَرم او نور یې وخوری، او زما کَرلے فصل دې تباه
شی. ۹ کهٔ زهٔ د ګاونډی په ښځه باندې مئین شم، او د هغې
په دروازه کښې په طمع کښېنم، ۱۰ نو بیا دې زما ښځه د
نورو دپاره میچن وکړی، او پرېږده چې نور سړی د هغې سره
څملی. ۱۱ ځکه چې دا به د شرم نه ډک کار وی، او دا به د
سزا حقدار جرم وی، ۱۲ ځکه چې دا به د دوزخ په شان
تباه کوونکے اور وی، او زما به هر څهٔ تباه کړی. ۱۳ کهٔ
زما وینځې یا غلام ما ته شکایت کړے وی، او ما هغوئ سره
اِنصاف نهٔ وی کړے، ۱۴ نو بیا زهٔ خُدائ پاک ته څنګه
مخامخ کېدے شم؟ کله چې هغه حِساب کِتاب کوی نو زهٔ
څهٔ جواب ورکړم؟ ۱۵ هغه خُدائ پاک چې زهٔ یې پیدا کړے
یم، زما نوکران یې هم پیدا کړی دی. ۱۶ ما کله هم د
غریبانانو مدد نهٔ دے پرېښے، او نهٔ مې کونډې مایُوسه کړې
دی، ۱۷ یا مې په روټئ کښې د شومتوب نه کار اخستے
وی، او دا مې یتیمانانو له نهٔ وی ورکړې ۱۸ ځکه چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوانۍ نه ما د یتیمانانو خیال لکه د یو پلار په شان ساتلے
دے، او ټول عُمر مې په کونډو پام کړے دے. ۱۹ کۀ ما
څوک په تکلیف کښې لیدلے وی چې جامې یې نۀ وی، یا
دومره غریب وی چې جامې نۀ شی اخستے، ۲۰ نو ما ورله
د کپړو دپاره د خپلو ګډو وړۍ ورکړې ده چې ځان په کښې
ګرم کړی، او هغوئ زما شکریه ادا کړې ده. ۲۱ کۀ ما د
یتیمانانو خِلاف خپل لاس اوچت کړے وی، ځکه چې ما ته
پته وه چې په عدالت کښې زما ملګری شته دے، ۲۲ نو زما
لاسونه دې مات شی، او زما د تن نه دې پرې کړے شی. ۲۳
ځکه چې زۀ د خُدائ پاک د مصیبت نه په یره کښې وم، او
زۀ د هغۀ د شان او شوکت په وړاندې نۀ شوم ودرېدلے. ۲۴
کۀ ما په سرو زرو یقین کړے وے، یا مې په سوچه سرو زرو
باندې اعتبار کړے وے، ۲۵ کۀ ما د خپل مال دولت په
وجه خوشحالی کړے وے، یا چې ما سره ډېر څۀ دی، ۲۶
کۀ ما په هغه وخت کښې نمر ته کتلے په کوم وخت کښې
چې دا ځلېدو، یا مې سپوږمۍ ته کتلے چې د شان او شوکت
سره روانه وی، ۲۷ او کۀ زما زړۀ په پټه د دې عبادت
شروع کړے وے، او د دُعا دپاره مې ورته لاسونه اوچت
کړے وے، ۲۸ دا به یو غلطی وے او قاضیانو به د دې په
وجه سزا راکړے وے، ځکه چې زۀ به د خُدائ تعالیٰ مجرم
وے. ۲۹ کۀ زۀ د هغه خلقو په تباهۍ باندې خوشحاله وے
چا چې زما نه نفرت کولو، یا مې په هغه وخت کښې
خوشحالی کولے چې بدعملی په هغوئ باندې غالِبه شوې وه،
۳۰ ما په خپله خولۀ باندې داسې ګناه نۀ ده کړې چې هغوئ
ته مې د مرګ ښېرې کړے وے. ۳۱ زما په خاندان کښې
هر یو کس ته پته ده، چې زما کور ته څوک هم راغلی دی نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوئ بشۀ مېلمستيا شوې ده. ۳۲ ما په پردو خلقو هيڅکله
بې‌غورى نۀ ده کړې چې هغوئ په کوڅه کښې شپه تېره کړى،
او ما مسافرو ته خپلې دروازې کولاو ساتلې دى. ۳۳ کۀ ما
خپله ګناه د نورو خلقو په شان پټه کړې وې، او غلطى مې په
خپل زړۀ کښې پټه ساتلې وې، ۳۴ ځکه چې زۀ د ګڼې نه يا د
خلقو د بې‌عزتئ نه يرېدلے يم، چې غلے پاتې يم او د کور نه
نۀ يم وتلے، ۳۵ نو اے کاش چې ما ته چا غوږ نيولے وے.
زۀ ليکلى درکوم چې هره يوه خبره رښتيا ده. او قادر خُدائ
دې زما فرياد واورى، او زما مخالفين دې ليکلے اِلزام
راوړى چې زۀ يې وګورم. ۳۶ بې‌شکه زۀ به په فخر سره د
اِلزام مقابله وکړم او زۀ به دا د تاج په شان په سر کړم. ۳۷
زۀ به هغۀ له د خپل عمل حِساب کِتاب ورکړم، او د هغۀ په
حضور کښې به زړَور ولاړ يم. ۳۸ کۀ ما هغه زمکه قبضه
کړې وى چې کومه زۀ کرَم او دا مې د خپل اصلى مالِک نه
اخستې وى، ۳۹ کۀ د دې پېداوار ما بغير د پېسو نه خوړلے
وى، او کۀ ما د دې مالِکان وژلى وى، ۴۰ نو پرېږده چې د
غنمو په ځائ ازغى وشى، او د اوربشو په ځائ دې ګنده
وابښۀ وشى.“ د ايُوب خبرې ختمې شوې.

## د اليهُو د حضرت ايُوب ملګرى رټل

۳۲ ۱ نو دې درېو کسانو ايُوب له نور جواب ورنۀ کړو،
ځکه چې ايُوب پخپله په خپل خيال کښې بې‌ګناه وو. ۲ نو
بيا د رام د خاندان د بوزى براکيل زوئ اليهُو غصه شو. هغه
ايُوب ته ځکه غصه شو چې ايُوب خپل ځان صحيح ګڼلو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خُدائ پاک يې اِلزام لګولو. ۳ هغه د ايُوب درېو ملګرو
ته هم غصه وو ځکه چې هغوئ ايُوب له جواب نۀ شو
ورکولے او داسې ښکاريده چې خُدائ پاک په غلطه دے.
۴ نو اليهُو د ايُوب سره د خبرو کولو دپاره د نورو کسانو
انتظار کولو، ځکه چې هغوئ د هغۀ نه مشران وُو. ۵ خو
چې کله اليهُو ته پته ولګېده چې د هغه درېو کسانو سره څۀ
جواب نۀ وو، نو هغه غصه شو. ۶ د بوزى براکيل زوئ
اليهُو ووئيل، ”زۀ زلمے يم، او تۀ بوډا يې، نو په دې وجه زۀ
يرېدم چې تا د خپلې رايې نه خبر کړم. ۷ ما وئيل چې
مشران دې خبره وکړى، ځکه چې عقل د عُمر سره راځى.
۸ دا د قادر خُدائ روح دے چې بنيادم له پوهه ورکوى.
۹ صرِف مشران هوښيار نۀ وى، کله کله مشران هم په
اِنصاف باندې نۀ پوهيږى. ۱۰ نو ځکه زۀ وايم چې ما ته غوږ
ونيسئ، ما پرېږدئ چې د خپلې رايې اظهار هم وکړم. ۱۱
ګوره، کله چې تا خبرې کولې نو ما څۀ نۀ وئيل، او ما ستا
دليل ته غوږ نيولو، کله به چې تا سوچ کولو چې څۀ ووايم.
۱۲ ما تا ته توجو کوله، خو داسې هيڅ څوک نۀ وُو چې
ايُوب يې غلط ثابت کړے وے، او په تاسو کښې داسې هيڅ
څوک نۀ وُو چې د هغۀ د خبرې جواب يې ورکړے وے. ۱۳
نو بيا دا مۀ وايئ چې مونږ ته عقل مِلاو شوے دے، پرېږده
چې د انسان په ځائ خُدائ پاک هغۀ له جواب ورکړى. ۱۴
ايُوب ما سره نۀ تاسو سره بحث کولو، خو زۀ به هغۀ له
ستاسو په شان جواب نۀ ورکوم. ۱۵ تاسو غلى ناست يئ،
تاسو سره بل جواب نشته، تاسو يوه خبره هم نۀ شئ کولے.
۱۶ کله چې تاسو خاموش يئ نو زۀ به هم خاموش يم؟ ځکه
چې تاسو هلته ولاړ يئ او بله يوه خبره هم نۀ شئ کولے؟ ۱۷

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به هم خپل جواب ورکړم، زۀ به هم د خپلې رايې اظهار
وکړم. ۱۸ ځکه چې ما سره خبرې ډېرې دى، په ما کښې
چې کوم روح دے هغه ما مجبوروى. ۱۹ کۀ ما ته د خبرو
کولو موقع مِلاو نۀ شى، نو زما برداشت ختم دے او زۀ به
پړق وچوم. ۲۰ زۀ به خبرې کوم، چې ما ته آرام مِلاو شى،
او زۀ به جواب درکړم. ۲۱ زۀ به د هيچا طرفدارى نۀ کوم
او زۀ به د چا چاپلوسى نۀ کوم. ۲۲ ځکه چې زۀ په
چاپلوسئ نۀ پوهېږم، ګنې زما پېدا کوونکى به زر ختم کړے
وم.

## د اليهُو حضرت ايُوب ته خپله خبره کول

۳۳ ۱ نو اے ايُوبه، زما خبرې واوره، او زۀ چې څۀ
وايم نو هغې ته متوجو شه. ۲ نو اوس چې ما خبرې شروع
کړې، نو پرېږده چې زړۀ تش کړم. ۳ زما ټولې خبرې
سپينې دى، او زۀ رښتيا رښتيا وايم. ۴ د خُدائ پاک روح
زۀ جوړ کړے يم، او د قادر خُدائ ساه ما له ژوند راکړے
دے. ۵ کۀ تا سره څۀ جواب وى نو ما له يې راکړه، د
خبرې دپاره ځان تيار کړه او په هغې ټينګ ودرېږه. ۶
ګوره، زۀ هم د خُدائ پاک په نظر کښې ستا په شان يم، زۀ
هم د خټې نه جوړ شوے وم. ۷ نو زما نه مۀ يرېږه، او زۀ
به تا سره زياتے نۀ کوم. ۸ تا زما په مخکښې خبرې کړې
دى، او ما ستا ټولې خبرې اورېدلې دى. ۹ تۀ وائې چې،
”زۀ صفا او بې‌ګناه يم، زۀ معصُوم يم او په ما کښې هيڅ
غلطى نشته. ۱۰ خو خُدائ پاک په ما کښې غلطى لټوى،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ما خپل دشمن ګڼی، ١١ هغه زما په پښو کښې زولنې
اچوی، او زما په هر حرکت يې نظر دے.“ ١٢ خو په دې
خبره کښې تهٔ غلط يې. زهٔ به تا ته ووايم چې ولې ځکه چې
خُدائ پاک د انسان نه لوئ دے. ١٣ تهٔ په خُدائ پاک باندې
اِلزام ولې لګوې، وائې چې هغه به زما د يوې خبرې جواب
هم ونهٔ کړی؟ ١٤ ځکه چې خُدائ پاک بار بار کلام کوی،
خو خلق دې ته غوږ نهٔ ږدی. ١٥ کله چې بنی آدم په خوب
اودهٔ وی او هغه خوب وينی يا رويا وينی، ١٦ نو خُدائ پاک
به د هغوئ غوږونه کولاو کړی، او د خبردارۍ په ذريعه به
هغوئ يروی، ١٧ هغه يې د بدو عملونو نه راوګرځوی، او د
غرور نه يې وساتی. ١٨ هغه يې د مرګ نه بچ کوی، او د
مرګ درياب د تېرېدو نه يې بچ کوی. ١٩ خُدائ پاک د
بيمارۍ په ذريعه د خلقو اصلاح کوی، او د هغوئ په بدنونو
باندې درد راولی، ٢٠ نو د هغوئ لوږه ختمه شی، او مزېدار
خوراک ته يې هم زړهٔ نهٔ کيږی. ٢١ د هغوئ بدنونه ويلی
شی، او دوه ګوتې مخ يې راوځی. ٢٢ هغوئ د مرګ په خولهٔ
ولاړ وی، او د مرګ فرښته د هغوئ انتظار کوی. ٢٣ خو کهٔ
د زرګونو فرښتو نه يوه فرښته راشی او چا ته صحيح لار
وښائی نو دا بس دی، ٢٤ او هغه په هغه کس باندې مِهربانه
شی او ووائی چې، هغه بچ کړه چې قبر ته لاړ نهٔ شی، ځکه
چې ما ته د هغهٔ د ژوند قيمت مِلاو شوے دے. ٢٥ د هغهٔ
بدن دې د ځوانۍ په وجه تازه شی، په هغهٔ دې د ځوانۍ
ورځې بيا راشی. ٢٦ بيا هغه خُدائ پاک ته سوال وکړی او
سوال يې قبول شی، هغه په خوشحالۍ سره د خُدائ پاک
حضور ته راشی، او هغه يې بيا يو نېک سړے جوړ کړی.
٢٧ هغه به نورو کسانو ته وائی چې، ما ګناه کړې ده، او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نېکۍ په ځائ مې بدی کړې ده. او خُدائ پاک ما له د هغې
سزا نۀ ده راکړې د څۀ چې زۀ لائق وم. ۲۸ خُدائ پاک زۀ د
قبر نه بچ کړم، او زما ژوند به په رڼا کښې وی. ۲۹ بې‌شکه
چې دا د خُدائ پاک کارونه دی، او د انسان دپاره يې بار بار
کوی. ۳۰ هغه يې د قبر نه بچ کوی، او د ژوند په خوند يې
پوهوی. ۳۱ ايُوبه، ما ته توجو شه او ما ته غوږ ونيسه، تۀ
خاموش اوسه او زۀ به خبرې کوم. ۳۲ کۀ تۀ څۀ وائې، نو
ووايه، زۀ غواړم چې تا بې‌ګناه ثابت کړم. ۳۳ کۀ داسې نۀ
وی، نو ما ته غوږ ونيسه، خاموش شه او زۀ به تا ته د عقل
ښودنه وکړم.“

## د اليهُو په حضرت ايُوب باندې اِعتراض کول

۳۴ ۱ نو اليهُو خپله خبره جاری وساتله او وې وئيل،
۲ ”اے عقلمندو سړو، زما خبره واورئ، اے هوښيارانو
ما ته غوږ ونيسئ، ۳ ځکه چې غوږونه خبرې داسې
معلوموی لکه څنګه چې ژبه د خوراک په خوند پوهيږی. ۴
راځئ چې د دې پته ولګوو چې څۀ صحيح دی، راځئ چې
ښۀ څيزونه زده کړُو. ۵ ځکه چې ايُوب وئيلی دی چې زۀ
بې‌ګناه يم، او خُدائ پاک زما سره اِنصاف نۀ کوی، ۶ زۀ
بې‌ګناه يم خو دروغژن ګڼلے شم، په ما کښې څۀ غلطی
نشته، خو زما د زخم علاج نشته. ۷ د ايُوب په شان څوک
شته، چې په چا کښې زره غوندې ادب هم نۀ وی؟ ۸ چې
هغه د بدعملو سره ملګرتيا کوی او د بدمعاشانو سره ګرځی.
۹ نو هغۀ دا هم وئيلی دی چې، ”د خُدائ پاک د راضی
کولو څۀ فائده ده.“ ۱۰ نو چې څوک عقل لرئ نو زما خبره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واورئ، هر چا ته پته ده چې خُدائ پاک بدى نۀ کوى، او د
قادر خُدائ دپاره ممکن نۀ دى چې هغه غلطى وکړى. ۱۱
ځکه چې هغه د عملونو په مطابق خلقو له بدله ورکوى، او
هغه شان سلوک ورسره کوى چې څنګه يې حقدار وى. ۱۲
بې‌شکه، خُدائ پاک به بد عمل نۀ کوى، او قادر خُدائ د
هيچا سره بې‌اِنصافى نۀ کوى. ۱۳ هغۀ له د زمکې اختيار چا
ورکړے دے، او دا ټوله دُنيا په خپل ځائ چا لګولې ده؟ ۱۴
کۀ خُدائ پاک د خلقو نه روح واخلى، او د ژوند ساه ترې نه
واخلى، ۱۵ ټول انسانان به ختم شى، او ټول بنى آدم به
خاورو ته واپس کيږى. ۱۶ کۀ تاسو پوهه لرئ، نو دا خبره
واورئ، زۀ چې څۀ وايم نو هغې ته غوږ کېږدئ. ۱۷ چې
خُدائ پاک پخپله اِنصاف نۀ کوى نو بيا هغه څنګه دُنيا
چلولے شى؟ تاسو به هغه لويه هستى رد کوئ څوک چې
صادق دے؟ ۱۸ څوک چې بادشاه ته وائى چې تۀ بې‌کاره
يې، او مشر ته وائى چې تۀ بدعمله يې، ۱۹ څوک چې د
حکمرانانو طرفدارى نۀ کوى، او د مالدارو خلقو طرفدارى د
غريبانانو نه زياته نۀ کوى، ځکه چې ټول هغۀ پيدا کړى دى.
۲۰ يو کس د شپې اچانک مړ کېدے شى، خُدائ پاک خلق
ووهى او هغوئ هلاک شى، خُدائ پاک طاقتور خلق هم په
آسانۍ سره وژلے شى. ۲۱ ځکه چې د هغۀ نظر د بنى آدم
په عمل باندې دے، او هغه د هغوئ هر قدم ته ګورى. ۲۲
داسې تکه توره تيارۀ نشته چرته چې بدعمله خلق خپل ځانونه
د هغۀ نه پټ کړى. ۲۳ مونږ وخت نۀ مقرروو چې کله به د
خُدائ پاک په وړاندې د عدالت دپاره راځو. ۲۴ هغه د
تپوس نه بغير طاقتور راګزار کړى، او د هغوئ په ځائ کښې
نور مقرر کړى. ۲۵ هغه د هغوئ په کارونو خبر دے، هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې په شپه کښې لرې کړی او هغوئ تباه شی. ۲۶ د هغوئ د
بدعملۍ په وجه يې تباه کړی چې د نورو دپاره د عبرت سبب
جوړ شی، ۲۷ ځکه چې هغوئ د هغۀ د تابعدارۍ نه اوړی،
او د هغۀ په حُکمونو باندې عمل نۀ کوی. ۲۸ نو هغوئ
غريبانان فرياد کولو ته جوړ کړل، چې دا فرياد خُدائ پاک
ته ورسيږی. او هغۀ د ضرورتمندو خلقو فرياد واورېدو، ۲۹
کۀ خُدائ پاک خاموش وی، نو څوک ورباندې اِعتراض
کولے شی څۀ؟ کله چې هغه پناه شی، نو څوک يې ليدلے
شی، کۀ هغه يو کس وی او کۀ قوم وی. ۳۰ نو چې داسې د
خُدائ پاک نه منکر خلق حکومت ونۀ کړی، او چې هغوئ
خلق دوکه نۀ کړی. ۳۱ خلق خُدائ پاک ته ولې نۀ وائی
چې، "مونږ ګناه کړې ده، خو مونږ به نوره ګناه نۀ کوُو"؟
۳۲ يا، "ما چې کومه بدعملی کړې وی نو هغه ما ته وښايه،
کۀ ما غلطی کړې وی، نو فوراً به يې پرېږدم"؟ ۳۳ خُدائ
پاک به ستا د خوښې دپاره خپل اِنصاف پرېږدی؟ خو تا هغه
رد کړے دے. دا زما نه بلکې ستا فېصله ده، مونږ ته اوس
ووايه چې ستا خيال څۀ دے؟ ۳۴ چې څوک پوهه لری نو
هغوئ به ما ته ووائی، او هغه عقلمند چې ما ته غوږ ږدی نو
هغوئ به ووائی، ۳۵ "ايُوب د جهالت خبرې کوی، د هغۀ
خبرې د کم عقلتوب نه ډکې دی." ۳۶ ايُوب دې عدالت ته
راوستلے شی او غتې نه غټه سزا دې ورکړے شی، ځکه چې
هغه د بدعمله سړی په شان خبرې کوی. ۳۷ ځکه چې هغه
د سرکشۍ سره ګناه کوی، هغه ګستاخ دے، او هغه د خُدائ
پاک خِلاف ډېرې خبرې کوی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اليهُو حضرت ايُوب ته د خُدائ پاک اِنصاف وريادول

# ۳۵
۱ اليهُو خپله خبره جارى وساتله او وې وئيل، ۲
”ستا په خيال دا دعوىٰ به صحيح وى، چې تهٔ وائى چې د
خُدائ پاک په نظر کښې زهٔ صادق يم، ۳ خو تهٔ بيا هم د
هغهٔ نه تپوس کوې چې په دې کښې زما څهٔ ګټه ده، او د ګناه
د نهٔ کولو په وجه ما ته څهٔ فائده مِلاو شوې ده؟ ۴ زهٔ به تا
او ستا ملګرو له جواب درکړم. ۵ آسمان ته نظر وکړه او
وګوره، هغه ورېځې وګوره، کومې چې ستا نه اوچتې دى.
۶ کهٔ تا ګناه کړې وى، نو په خُدائ پاک باندې څهٔ اثر
پرېوځى؟ او کهٔ تهٔ بار بار غلطيانې کوې، نو تهٔ به د هغهٔ څهٔ
وکړې؟ ۷ کهٔ تهٔ صادق يې، نو دې نه هغهٔ ته څهٔ فائده ده؟
خُدائ پاک ته ستا د يو څيز ضرورت هم نشته. ۸ ستا
بدعملى صرف ستا په شان بنى آدم باندې اثر کوى، او ستا
ښهٔ عمل هم صرف په نورو بنيادمو اثر کوى. ۹ د ظلمونو
د زياتېدو په وجه خلق فرياد کوى، او د زورَورو د ظلم په
وجه د مدد دپاره چغې وهى. ۱۰ خو هيڅ څوک دا نهٔ وائى
چې خُدائ پاک زما پيدا کوونکے چرته دے؟ څوک چې د
غم په وخت هم په خولهٔ باندې سرودونه راولى، ۱۱ هغه
مونږ ته د دُنيا د ځناورو نه زياته ښودنه کوى، او مونږ د هوا
د مارغانو نه زيات هوښياروى؟ ۱۲ چې کله بدعمله فرياد
کوى، نو خُدائ پاک د هغوئ د غرور په وجه جواب نهٔ
ورکوى. ۱۳ په حقيقت کښې خُدائ پاک بې‌مقصده فرياد نهٔ
اورى، او نهٔ قادر خُدائ دې ته څهٔ توجو ورکوى. ۱۴ تاسو
وايئ چې تاسو خُدائ پاک نهٔ وينئ، خو کهٔ تاسو لږ صبر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړئ نو هغه به د اِنصاف نه کار واخلی. ۱۵ تاسو وايئ
چې خُدائ پاک په غصه کښې سزا نهٔ ورکوی، او د بدعملئ
پرواه نهٔ ساتی. ۱۶ ايُوبه، تهٔ فضول خبرې کوې، او لکه د يو
بېوقوف په شان خبرې کوې.“

## د اليهُو د خُدائ پاک ثناء صِفت کول

۳۶ ۱ اليهُو خپله خبره جاری وساتله او وې وئيل، ۲
”ما ته لږ صبر وکړئ، نو زهٔ به تاسو ته حقيقت وښايم، ځکه
چې زهٔ د خُدائ پاک په صفايئ کښې څهٔ وئيل غواړم. ۳
زهٔ به د خپل ډېر عِلم نه کار واخلم، چې دا ثابت کړم چې زما
خالِق د اِنصاف مالِک دے. ۴ په حقيقت کښې زما خبرې
غلطې نهٔ دی، څوک چې ستا په وړاندې ولاړ دے هغه د
اُستاذانو اُستاذ دے. ۵ خُدائ پاک بېشکه لوئ دے او د
هيچا نه نفرت نهٔ کوی، داسې يو عِلم هم نشته چې هغه يې نهٔ
لری. ۶ هغه بدعمله خلق ژوندی نهٔ پرېږدی، خو مظلومانو
له خپل حق ورکوی. ۷ هغه د صادقانو حفاظت کوی، او
د بادشاهانو سره يې په تخت کښېنوی او د تل دپاره عزت
ورکوی. ۸ خو کهٔ خلق په زنځيرونو کښې تړلے شوی وی
او د ظلم په تارونو کښې ګېر شوی وی، ۹ نو هغه ورته د
هغوئ خپل عمل ښائی، او هغه غلطيانې ورته ښائی، چې
کومې هغوئ په فخر سره کولې. ۱۰ هغه اصُولو ته يې پام
راګرځوی، او حُکم ورکوی چې د بدو نه توبه وباسی. ۱۱
کهٔ هغوئ ورته توجو ورکړی او د هغهٔ خِدمت وکړی، نو
هغوئ به په مالدارئ کښې خپلې ورځې پوره کړی، او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالۍ کښې به خپل کالونه پوره کړی. (۱۲) خو کۀ هغوئ
دې ته توجو ورنۀ کړی، نو هغوئ به په جهالت کښې هلاک
شی او د خاورو د لاندې به شی. (۱۳) کوم خلق چې د خُدائ
پاک نه منکر وی او هر وخت په غصه کښې وی، چې کله
هغوئ ته سزا هم ملاویږی نو هغوئ د مدد دپاره دُعا نۀ کوی.
(۱۴) هغوئ په ځوانۍ کښې مړۀ شی، او د هغوئ ژوند په
زناکارۍ کښې ختم شی. (۱۵) خو هغه مظلومان د ظلم نه بچ
کوی، او د مصيبتونو په وخت کښې ورته خپل ځان
ځرګندوی. (۱۶) ايُوبه، خُدائ پاک دې تا د خطرې نه وباسی،
او هغه ځائ ته دې بوځی چرته چې غم نۀ وی. هغه ستا په
دسترخوان باندې ښۀ ښۀ خوراکونه کېښودل. (۱۷) خو د
نورو بدعملو په شان به پوره سزا تا ته ملاویږی، تۀ په عدالت
او اِنصاف کښې راګير يې. (۱۸) خبردار چې رشوت دې دوکه
نۀ کړی، او دولت دې بې لارې نۀ کړی. (۱۹) ستا دولت او
ستا طاقت ټول به تا د تکليف نه بچ کړی څۀ؟ (۲۰) د شپې د
راتلو خواهش مۀ کوه، د هغه وخت چې کله قومونه تباه
کيږی. (۲۱) خبردار، چې د بدعملۍ طرف ته وانۀ وړې،
خُدائ پاک ځکه په تکليف کړے يې چې په بدعملۍ کښې
آخته نۀ شې. (۲۲) ياد ساته چې د خُدائ پاک طاقت څومره
لوئ دے، او هغه د ټولو نه عظيم اُستاذ دے. (۲۳) هيڅوک
خُدائ پاک ته دا نۀ شی وئيلے چې هغه به څۀ کوی، او
څوک ورته وئيلے شی چې تا غلط کار کړے دے؟ (۲۴) څۀ
چې هغه کوی په هغې تل د هغۀ تعريف کيږی. تۀ هم د هغۀ
ثناء صِفت کوه. (۲۵) ټولو خلقو دې ته کتلی دی، هر يو کس
د لرې نه دې ته ګوری. (۲۶) بې شکه خُدائ پاک لوئ دے او
مونږ د هغۀ د لوئ اندازه هم نۀ شُو لګولے، د هغۀ د کالونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمېر نشته. ٢٧ ځکه چې هغه نمی اوچتوی، او په باران يې
بدلوی، ٢٨ هغه وريځې جوړوی او په هر چا باران راوروی.
٢٩ څوک د وريځو په خورېدو باندې پوهېږی، او د آسمان
په تندر باندې پوهېږی څۀ؟ ٣٠ ګوره، هغه په آسمان کښې
برېښنا راولی خو د سمندر بېخ کښې تيارۀ وی. ٣١ ځکه
چې د دې په ذريعه هغه په خلقو حکومت کوی، او هغه خلقو
له بې‌حسابه خوراک ورکوی. ٣٢ هغه برېښنا په خپلو
لاسونو کښې ساتی، او حُکم ورکوی چې نښه وولی. ٣٣ د
هغۀ د تندر آواز داسې وائی، چې هغه غېرتی دے او د ګناه
خِلاف غصه لری.

## ٣٧

١ په دې باندې هم زما زړۀ درزيږی، او ټوپونه وهی.
٢ واورئ، واورئ، د خُدائ پاک د تندر آواز واورئ او د
غړمبا آواز واورئ چې د هغۀ د خولې نه راځی. ٣ د ټول
آسمان لاندې هغه دا پړق وهی، او د هغۀ رڼا د دُنيا ګوټونو ته
رسيږی. ۴ بيا د هغۀ آواز شور جوړ کړی، او د هغۀ د تندر
آوازونه د شان او شوکت سره راشی، کله چې د هغۀ آواز
واورېدے شی نو هغه رڼاګانې نۀ ايساروی. ۵ خُدائ پاک
د خپل آواز سره زبردست تندر راولی، هغه داسې لوئ کارونه
کوی چې مونږ پرې نۀ پوهېږو. ۶ ځکه چې هغه واورې ته
وائی چې په زمکه ووريږه، او باران ته وائی چې ووريږه، ٧
نو هر يو کس خپل کار بس کړی چې د هغۀ طاقت وګوری.
٨ بيا ځنګلی ځناور خپلو پناه ګاهو ته لاړ شی او په خپلو
غارونو کښې پاتې شی. ٩ د جنوب طرف نه طوفانی هوا
راځی، او د شمال طرف نه د سختې هوا نه يخنی راځی. ١٠
د خُدائ پاک ساه د اوبو نه واوره جوړوی، او ډېرې اوبۀ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واوره باندې بدلې شى. ١١ هغه وريځ د نمى نه ډکوى، او په
وريځو کښې برېښنا پرقوى، ١٢ کله چې دا د خُدائ پاک په
مرضى چليږى نو دا په ټوله دُنيا کښې د خُدائ پاک هر يو
حُکم پوره کوى، ١٣ هغه دا کارونه ځکه کوى چې خلقو ته
په کښې تکليف مِلاو شى يا کۀ نۀ ختمېدونکې مينه ورته
ښائى. ١٤ اے ايُوبه، دا واوره، ودرېږه او د خُدائ پاک په
دې عجيبه عجيبه کارونو باندې سوچ وکړه. ١٥ تا ته پته
شته څۀ چې هغه طوفان څنګه قابو کوى، او د خپلې وريځې
نه رڼا څنګه پرقوى؟ ١٦ تا ته پته شته چې وريځې په آسمان
کښې څنګه روانې وى، دا د هغه چا عجيبه کارونه دى چې
عِلم يې پوره دے، ١٧ کله چې تاسو په خپلو جامو کښې
سوزئ او د جنوب طرف ته هوا بنده شى او يو څيز هم نۀ
خوځيږى؟ ١٨ هغه په آسمانونو کښې سترګې برېښوونکې
رڼا ځلوى. ولې تاسو هغه شان کولے شئ؟ ١٩ مونږ ته
ووايئ چې هغۀ ته څۀ ووايو، زمونږ دماغ کار نۀ کوى چې
خپله خبره بيان کړُو. ٢٠ خُدائ پاک دې خبر شى څۀ چې
زۀ خبرې کول غواړم، زۀ داسې ولې وکړم چې د دې په وجه
مې تباه کړى؟ ٢١ په هغه وخت کښې رڼا ته هيڅ څوک نۀ
شى کتلے کله چې دا په آسمان کښې تکه سپينه وى، په کوم
وخت کښې چې هوا وريځ بوځى. ٢٢ د شمال په طرف د
سرو زرو جلوه ښکارى، د خُدائ پاک نه ګېرچاپېره لوئى،
شان او شوکت تاو دے. ٢٣ مونږ د قادر مطلق خُدائ د
طاقت تصور نۀ شُو کولے، خو هغه بيا هم د اِنصاف والا او
صادق دے، هغه مونږ نۀ تباه کوى. ٢٤ نو په دې وجه بنى
آدم د هغۀ نه يرېږى، او څوک چې ځان هوښيار ګڼى نو هغه
يې پرواه نۀ کوى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ حضرت ایُوب له جواب ورکول

٣٨ (١) نو مالِک خُدائ د طوفان نه ایُوب له جواب
ورکړو، (٢) ”هغه څوک دے چې بغېر د څۀ پوهې نه زما د
عقل په حقله تپوسونه کوی؟ (٣) نو اوس ټینګ شه، او زما د
سوال جواب راکړه. (٤) کله چې ما د زمکې بنیاد کېښودو
نو تۀ چرته وې؟ کۀ تا ته دومره پته وی نو ما ته ووایه. (٥)
چې دا به څومره غټ وی د دې پته چا لګولې ده؟ او په دې
چا د ناپ کربشه راښکلې ده؟ (٦) د دې بنیادونه په څۀ باندې
ودرېدل، او د دې د ګوټ کاڼے چا کېښودو؟ (٧) چې کله د
سحر ستورو په یو ځائ سندرې وئیلې او ټولو فرښتو د
خوشحالۍ نه چغې وهلې. (٨) کله چې سمندر زمکې ته
راخلاص شو، نو دا چا قابو کړو؟ (٩) کله چې ما ورېځ د
دې لِباس جوړ کړو، او دا ما په تکه توره تیارۀ کښې
راونغښتلو، (١٠) او د دې دپاره مې حدونه جوړ کړل، او را
ایسار مې کړو چې د حد نه وانۀ وړی، (١١) او ورته مې ووئیل
چې د دې نه وړاندې به نۀ راځې، او ستا زوروَرې چپې دې
دلته ایسارې شی. (١٢) تا کله حُکم کړے دے چې سحر دې
شی، او نمر ته دې وئیلی دی چې د نمرخاتۀ طرف نه
راوخېژی؟ (١٣) تا سحر له حُکم ورکړے دے چې په زمکه
خور شی، او چې د شپې بدعملی ختمه کړی؟ (١٤) او بیا
زمکه د رڼا د وجې صفا ښکاری، او رنګ یې د رنګدارو
جامو په شان شی. (١٥) رڼا د بدعمله خلقو کارونه بندوی، او
هغوئ نور ظلم زیاتے نۀ شی کولے. (١٦) تا هغه چینې لیدلې
دی چې سمندر ترې نه جوړېږی، یا تا د دې ډوبوالے معلوم
کړے دے؟ (١٧) د مرګ دروازه تا ته ښکاره شوې ده څۀ؟ یا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا د تکي تورې تيارې دروازې ليدلې دی څۀ؟ ۱۸ تۀ د دُنيا په
لوئ والې پوهه شوے يې څۀ؟ کۀ د دې نه خبر يې نو ما ته
ووايه. ۱۹ رڼا د کوم ځائ نه راځی، او د تيارې ځائ چرته
دے، ۲۰ تۀ دا هر يو خپل خپل کور ته بوتلے شې څۀ؟ تا ته
پته شته چې هغې ته کومه لار تلې ده؟ ۲۱ خو تۀ خو به د دې
هر څۀ نه خبر يې کنه؟ ځکه چې د دې پېدا کېدو نه وړاندې تۀ
موجود وې، او تۀ د ډېرې مودې يې. ۲۲ تۀ د واورې
ګودامونو ته ننوتلے يې څۀ، يا تا د ږلئ ګودامونه ليدلی دی
څۀ؟ ۲۳ هغه چې ما د مصيبت د وخت دپاره ساتلی دی، او
د جنګ جګړې دپاره مې ساتلی دی؟ ۲۴ هغه ځائ ته تلے
يې څۀ چرته چې نمر راخېژی، او د کوم ځائ نه چې د
نمرخاتۀ هوا لګی؟ ۲۵ د دروند باران لارې چا جوړې کړې
دی، او د تندر د برېښنا دپاره يې لار صفا کړې ده، ۲۶ په
هغه مُلک باندې څوک باران راولی چرته چې هيڅ څوک نۀ
اوسيږی، په هغه صحرا باندې، چې هغه د بنيادمو نه خالی
وی، ۲۷ چې هغه تږې او اوچه زمکه اوبۀ کړی، او چې په
هغه زمکه باندې وابښۀ راشنۀ کړی؟ ۲۸ ولې د باران پلار
شته څۀ، يا پرخه چا پېدا کړې ده؟ ۲۹ د واورې مور څوک
ده؟ او د آسمان يخ له ژوند څوک ورکوی، ۳۰ کومه چې
اوبۀ د کاڼی په شان سختې کړی، او د سمندر مخ کلک
کړی؟ ۳۱ تۀ عقدِ ثُريا ستورو ته لار ښودلے شې، يا جبار
ستورے په مينځ بېلولے شې څۀ؟ ۳۲ ولې تۀ منطقتُ البُروج
ستورو ته خپل موسمونه ښودلے شې، يا تۀ بناتُ النعش
ستوری ته سره د هغې د بچو لار ښودلے شې؟ ۳۳ تۀ د
آسمان په قانون پوهېږې څۀ؟ يا تۀ د هغوئ قانون په زمکه
باندې قائمولے شې څۀ؟ ۳۴ ولې تۀ خپل آواز وريځو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رسولې شي څهٔ، د دې دپاره چې باران ووروی؟ ۳۵ تهٔ
برېښنا ځلولې شې څهٔ؟ يا دا پخپله مرضۍ باندې
راغورزولې شي څهٔ؟ ۳۶ خبره په زړهٔ کښې چا اچولې ده،
او دماغو له پوهه چا ورکړې ده؟ ۳۷ داسې هوښيار شته
چې ورېځې وشمېرى؟ يا د آسمان نه باران ورولې شی داسې
لکه چې د منګی نه اوبهٔ تویٔ کړے شی، ۳۸ په هغه اوچه
زمکه باندې چې د خاورې نه يې لوټې جوړې شوې وی؟ ۳۹
ولې تهٔ د ازمری دپاره ښکار کولې شې، او د وړو زمرو لوږه
پوره کولې شې، ۴۰ کله چې هغه په خپلو غارونو کښې پټ
وی، يا په بوټو کښې د ښکار په اِنتظار ناست وی؟ ۴۱
کارغانو دپاره د خوراک بندوبست څوک کوی، کله چې د
هغوئ بچی خُدائ پاک ته ژړا کوی، او د خوراک د نشتوالی
په وجه سرګردانه ګرځی؟

## ۳۹

۱ تا ته پته شته چې کله د غرهٔ چېلۍ بچی راوړی؟
ولې تهٔ پرې نظر ساتې چې کله هوسۍ بچی راوړی؟ ۲ ولې
تا ته پته شته چې دا بچی څو مياشتې د هغوئ په ګېډه وی؟
او تا ته د هغه وخت پته شته څهٔ چې دا به کله پيدا شی ۳
کله چې هغوئ د اولاد د پيدا کېدو دپاره کښېنی، او د هغوئ
بچی پيدا شی؟ ۴ د هغوئ بچی تکړه شی او په ځنګل کښې
لوئيږی، هغوئ ترې نه لاړ شی او واپس ورله نهٔ راځی. ۵
ځنګلی خرونه چا پرېښې دی چې خوشی لاړ شی؟ دا چا آزاد
پرېښی دی چې ګرځی راګرځی؟ ۶ ما دا په صحرا کښې
پرېښی دی، او د مالګې مُلک مې ورکړے دے چې په کښې
اوسيږی. ۷ هغه د ښار د شور نه نفرت کوی، او خرکار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورسره نشته چې په دې باندې آواز وکړی. ۸ دا غرونو ته
ځی چې دا يې د خړن زمکه شی، او هر يو شين بوټے د
خوراک دپاره لټوی. ۹ ولې ځنګلی غوَيے به تا پرېږدی
چې کار ترېنه واخلی؟ هغه به ستا په اخور کښې شپه تېره
کړی څۀ؟ ۱۰ ولې تۀ يو ځنګلی غوَيے د يوې دپاره تړلے
شې؟ دا به ستا دپاره يو پټے يوه کړی څۀ؟ ۱۱ ولې تۀ د
هغې لوئ طاقت باندې اعتبار کولے شې چې هغه به ستا مدد
وکړی؟ تۀ په دې باندې دا يقين کولے شې څۀ چې دا به ستا
دپاره کار وکړی؟ ۱۲ تۀ په دې يقين کوې چې دا به واپس
راشي، او ستا درمند ته به ګېډی راوړی؟ ۱۳ د شترمرغ وزر
ښائسته کولاو خورېږی، خو دا د زانې د وزرو برابر کېدے
خو نۀ شی. ۱۴ شترمرغ خپلې هګۍ د دې دپاره په زمکه
پرېږدی، چې ګرمی شی، ۱۵ دا فکر نۀ کوی چې د څۀ پښې
لاندې به راشی، او چې يو ځنګلی ځناور به يې ذرې ذرې
کړی. ۱۶ دا په خپل بچی باندې داسې ظلم کوی، چې ګنې
دا يې خپل نۀ وی، او کۀ مری نو پرواه يې نۀ ساتی، ۱۷ ځکه
چې خُدائ پاک د هغې نه عقل اخستے دے، او هيڅ پوهه يې
نۀ ده ورکړې. ۱۸ خو کله چې پاڅی او منډه کړی، نو بيا
څوک چې په آس ناست هم وی د دې نه مخکښې کېدے نۀ
شی. ۱۹ ولې آس له طاقت تا ورکړے دے؟ د هغۀ په څټ
باندې وېښتۀ تا پېدا کړی دی؟ ۲۰ د قحطۍ مُولخانو په شان
د دې ټوپ تا جوړ کړے دے؟ او يا د دې هغه د رُعب والا
آوازونه تا جوړ کړی دی څۀ چې خلق يروی؟ ۲۱ دا په پښه
باندې زمکه ټکوی او په خپل طاقت په هغه وخت
خوشحالېږی چې د جنګ دپاره ولېږلے شی. ۲۲ دا يرې
پورې خندا کوی او نۀ بې‌حوصلې کېږی، او د تُورې نه نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاته کیږی. ۲۳ په دې باندې سورلۍ سره د غشو تیلۍ
ځلېدونکې نېزه او وړه نېزه هم آواز پیدا کوی. ۲۴ د جوش
او د غصې د وجې دا په تېزۍ سره ځی، دا د بیګل د غږېدو
پورې صبر نهٔ شی کولے. ۲۵ کله چې بیګل وغږېږی نو آس
یو هڼ آواز وکړی. د لرې ځائ نه هغهٔ له د جنګ بوئ ورځی،
د جنګی مشرانو د تندر په شان آواز او چغې اوری. ۲۶ ولې
باښه ستا د عقل په وجه الوځی، چې خپل وزر خوارهٔ کړی
او د جنوب طرف ته والوځی؟ ۲۷ باز ستا په حُکم بره
خیژی او په اوچت ځائ خپله جاله جوړوی؟ ۲۸ دا په
اوچت ګټ باندې اوسیږی او خپل کور جوړوی او د ګټ په
سر باندې په یو محفوظ ځائ کښې شپه تېروی. ۲۹ د هغه
ځائ نه یې په ښکار باندې نظر وی، او د هغهٔ سترګې ښکار د
لرې ځائ نه وینی. ۳۰ د دې بچی وینه څښی، او چې په
کوم ځائ کښې مرداره وی، نو هغه په هغه ځائ کښې
حاضر وی."

۴۰ ۱ بیا مالِک خُدائ ایُوب ته وفرمائیل، ۲ "تهٔ اوس
هم د قادر خُدائ سره بحث کول غواړې څهٔ؟ څوک چې د
خُدائ پاک سره بحث کوی نو هغه به جواب ورکوی."

## د حضرت ایُوب جواب

۳ بیا ایُوب مالِک خُدائ له جواب ورکړو، ۴ "ګوره، زهٔ
هیڅ هم نهٔ یم، زهٔ به تا له څهٔ جواب درکړم؟ زهٔ په خپله خولهٔ
باندې لاس ږدم. ۵ ما ډېر څهٔ وئیلی دی، نور زهٔ څهٔ نهٔ
وایم." ۶ بیا مالِک خُدائ د طوفان نه ایُوب له جواب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړو، ۷ ”نو اوس ورته ټینګ شه، زهٔ به ستا نه تپوس
وکړم او تهٔ به ما له جواب راکړې. ۸ ولې تهٔ د دې ثابِتولو
کوشش کوې چې زهٔ بې‌اِنصافه یم، او ما غلط وګڼې او خپل
ځان ته صحیح ووائې؟ ۹ تهٔ د خُدائ پاک په شان تکړه یې
څهٔ، ستا آواز د هغهٔ د تندر د آواز په شان کېدے شی؟ ۱۰
کهٔ داسې وی نو په رُعب داب او شان و شوکت سره خپل
ځان سنګار کړه، د عزت او درناوی په جامو باندې خپل
ځان پټ کړه. ۱۱ خپل ځان په قهر کړه، هر یو مغرور سړی
ته ګوره او هغه سپک کړه، ۱۲ ټولو مغروره خلقو ته وګوره
او هغوئ عاجزان کړه، او بدعمله خلق ټک سره ووژنه. ۱۳
هغوئ ټول په خاورو کښې ښخ کړه، او هغوئ قبر کښې قېد
کړه. ۱۴ نو زهٔ به دې هم صِفت وکړم، ځکه چې خپل
طاقت تا بچ کولے شی. ۱۵ دریابی مېښې ته وګوره، چې
هغه مې هم هغه شان جوړه کړې ده لکه څنګه مې چې تهٔ
جوړ کړے یې، دا د یو غویِی په شان واښهٔ خوری. ۱۶ د
هغې طاقت د هغې په بدن کښې دے، او د هغې طاقت د هغې
د خېټې په پټو کښې دے. ۱۷ د هغې لکئ لکه د دِیار د ونې
په شان سخته ده، د هغې د پتُون پټې خپلو کښې غوټه شوې
دی. ۱۸ د دې هډوکی د زېړو نلکې دی، د هغې هډوکی د
اوسپنې سیخونه دی. ۱۹ دا د خُدائ پاک د کارنامو یو لوئ
کار دے، او صرف د دې خالِق په دې باندې قابو موندلے
شی. ۲۰ ځکه چې غرونه د دې دپاره خوراک پیدا کوی
چرته چې ټول ځنګلی ځناور لوبې کوی. ۲۱ دا په اوبو کښې
د نیلوفر بوټو لاندې پراتهٔ وی او د لوخې په ډنډونو کښې پټ
وی. ۲۲ د نیلوفر بوټی ورباندې سورے کوی، او د نِهر د
غاړې د وَلو ونې د دې نه ګېرچاپېره تاو وی. ۲۳ کهٔ سیند په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موج کښې وی، نو دا نهٔ یرېږی، د اُردن سیند کهٔ تر خولې
پورې هم ډک وی نو دا نهٔ یرېږی. ۲۴ څوک دا د کُنډو سره
راوچتولے شی، یا یې څوک په پوزه کښې د قابو کولو دپاره
پېزوان اچولے شی؟

۴۱ ۱ سمندری بلاګانې تهٔ د کُنډې سره راویستلے شې،
یا د دې ژبه د پړی سره تړلے شې څهٔ؟ ۲ ولې تهٔ دې ته
پېزوان اچولے شې، یا یې په ژامنه کښې کُنډه اچولے شې؟
۳ ولې دا به د رحم دپاره تا ته ډېر مِنتُونه وکړی؟ یا به نرمې
خبرې درته وکړی؟ ۴ دا به تا سره یو لوظ وکړی څهٔ چې
ټول عُمر به ستا غلام وی؟ ۵ ولې تهٔ به دا د یو مارغهٔ په
شان وساتې څهٔ، یا تهٔ به دا وتړې څهٔ دپاره د دې چې ستا
وینځې ورسره لوبې وکړی؟ ۶ ولې سوداګر به د دې سودا
وکړی؟ چې په بازار کښې یې خرڅ کړی؟ ۷ ولې د هغې په
څرمن باندې غشی څهٔ اثر کوی، او د دې سر د نېزو سره
غوڅولے شې؟ ۸ کهٔ تهٔ خپل لاس د دې سره ولګوې، نو د
جنګ په مزه به پوهه شې، او بیا به هیڅکله داسې نهٔ کوې.
۹ نه، د دې نیول څهٔ فائده نهٔ کوی، او کوم ښکاری چې د
دې د نیولو کوشش کوی نو هغه به راوغورزولے شی. ۱۰
هیڅ څوک هم دا جرأت نهٔ شی کولے چې کار ورسره
وساتی. او د دې په وړاندې څوک ټینګېدے شی؟ ۱۱ چا ما
له څهٔ راکړی دی چې زهٔ بدله ورکړم؟ د آسمان نه لاندې هر
څهٔ زما دی؟ ۱۲ زهٔ به د دې د بدن د اندامونو په حقله
خاموشی نهٔ اختیاروم، یا د دې د لوئ طاقت او د دې د ښهٔ
بدن په حقله به وایم. ۱۳ د دې نه څرمن څوک ویستے
شی؟ د دې ډکه څرمن څوک سورے کولے شی؟ ۱۴ د دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خولې ژامنې څوک کولاولے شی؟ ځکه چې د دې غاښونه
خلق يروی. ۱۵ د دې ملا د ډالونو قطارونو نه جوړه ده، دا
د يو بل سره کلک انښلی. ۱۶ د يو بل سره دومره نزدې دی،
چې د دې په مينځ کښې هوا هم نۀ شی تېرېدلے. ۱۷ دا د يو
بل سره تړلی شوی دی، دې يو بل نيولے دے او د يو بل نه
نۀ جدا کيږی. ۱۸ د دې انتوشی لکه د رڼا پړق وی، او د دې
سترګې د سحر د سوروالی په شان دی. ۱۹ د دې خولې نه
د ډيوو شُغلې ځی، او د اور ذرې ترې نه راوځی. ۲۰ د دې د
پوزې نه لوګے راوځی، لکه چې د پتيلې لاندې د بلو لوخو
لوګے وی. ۲۱ د دې ساه سکارۀ بلوی، او د دې خولې نه
يوه لمبه راوځی. ۲۲ د دې څټ مضبوط دے، او چې چرته
هم ځی نو هلته يره راځی. ۲۳ د دې د غوښې موړې د يوې
بلې سره انښتې دی، دا مضبوطې جوړې دی او نۀ خوځيږی.
۲۴ د دې زړۀ د کاڼی په شان سخت دے، لکه د ژرندې د
کاڼی په شان سخت دے. ۲۵ کله چې دا په خپله پاڅی نو
طاقتور خلق ويريږی، او يرې نه وتښتی. ۲۶ داسې تُوره
نشته چې زخمی يې کړی، نۀ پرې نېزه، نۀ غشے او نۀ
ورباندې نری نېزه څۀ اثر کوی. ۲۷ دا اوسپنه د بوسو په
شان ګڼی، او زيړ د وړَستو شوو لرګو په شان ګڼی. ۲۸
غشی دا نۀ شی شړلے، او د ليندې کاڼی خو ورته ګپ
ښکاری. ۲۹ لَوړ د بوسو په شان ګڼی، او د نرو نېزو په
راويستلو پورې دا خندا کوی. ۳۰ د دې خېټه د تېرو ماتو
شوو شيشو په شان ده، دا په خټه باندې داسې نښه پرېږدی
لکه چې په مېخونو سورے شوے وی. ۳۱ دا سمندر د
يشېدلو اوبو په شان خوځوی، او دا سمندر داسې شاربې لکه
شُملې. ۳۲ دا د خپل ځان شا ته يو پړقېدونکې کرښه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېږدی، او سمندر تک سپين کړی ۳۳ په زمکه باندې د دې
ثانی نشته، دا يو داسې مخلوق دے چې نۀ يرېږی. ۳۴ دا په
ټولو کبڼې ډېر مغرور دے، دا د ټولو ځناورو بادشاه دے.“

## د حضرت ايُوب خُدائ پاک له جواب ورکول

۴۲ ۱ بيا ايُوب مالِک خُدائ له جواب ورکړو، ۲ ”ما
ته پته ده چې تۀ هر څۀ کولے شې، او تا د خپل کار نه هيڅ
څوک نۀ شی ايسارولے. ۳ تا وفرمائيل چې، ”هغه څوک
دے چې زما په حِکمت باندې د ناپوهئ سره شک کوی؟“
هغه زۀ يم، ما د داسې څيزونو خبره کوله چې ما ته يې هيڅ
پته نۀ وه، او هغه خبرې زما دپاره ډېرې عجيبه او لوئې وې.
۴ تا وفرمائيل چې، ”ما ته غوږ ونيسه او زۀ به وايم، زۀ به
تپوس کوم او تۀ به ما له جواب راکوې.“ ۵ ما مخکښې
صرف ستا په حقله اورېدلی دی، خو اوس مې په خپلو
سترګو وليدلې. ۶ نو ما چې څۀ وئيلی دی نو په هغې
شرمنده يم، او په خاورو او ايرو کښې توبه وباسم.“

## د مالِک خُدائ حضرت ايُوب له برکت ورکول

۷ کله چې مالِک خُدائ د ايُوب سره دا خبرې وکړې، نو
مالِک خُدائ تيمانی اليفز ته وفرمائيل، ”زۀ تا او ستا دوو
ملګرو ته سخت غصه يم، ځکه چې تاسو زما هغه خبره نۀ ده
کړې چې کومه صحيح ده، لکه څنګه چې زما خِدمت
کوونکی ايُوب کړې ده. ۸ نو په دې وجه اوس اووۀ غوَيِی
او اووۀ ګډان بوځه او زما خِدمت کوونکی ايُوب له ورشه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپل ځان دپاره دا د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړه،
نو زما خِدمت کوونکے ايُوب به ستا دپاره دُعا وکړى، ځکه
چې زۀ به د هغۀ دُعا قبلومه او ستاسو د کم عقلتوب په مطابق
کار به درسره نۀ کوم، ځکه چې تاسو زما هغه خبره نۀ ده
کړې چې کومه صحيح ده، لکه څنګه چې زما خِدمت
کوونکى ايُوب کړې ده.“ ۹ نو تيمانى اليفز، شوحى بِلداد او
نعماتى ضوفر لاړل او چې مالِک خُدائ څنګه فرمائيلى وُو هم
هغه شان يې وکړل، او مالِک خُدائ د ايُوب دُعا قبوله کړه.

## د خُدائ پاک حضرت ايُوب له بيا برکت ورکول

۱۰ نو کله چې ايُوب د خپلو ملګرو دپاره دُعا وکړه نو
خُدائ پاک هغۀ له بيا برکت ورکړو، او چې ايُوب مخکښې
څۀ لرل نو مالِک خُدائ هغۀ له د هغې يو په دوه نور هم زيات
ورکړل. ۱۱ نو هلته هغۀ له د هغۀ ټول وروڼه خويندې او ټول
پخوانى خپل پردى راغلل او هغوئ د هغۀ په کور کښې روټۍ
وخوړه. او هغوئ ورته مينه ښکاره کړه او د هغه تکليفونو په
وجه يې هغۀ له تسلى ورکړه چې مالِک خُدائ په هغۀ راوستى
وُو. او هغوئ هر يو هغۀ له لږې پيسې او يوه د سرو زرو
ګوتمه ورکړه. ۱۲ نو مالِک خُدائ د ايُوب وروستنے عُمر د
اول عُمر نه زيات برکتناک کړو، او د هغۀ څوارلس زره
ګډې، شپږ زره اوښان، دوه زره غويَى او يو زر خرۀ وُو. ۱۳
د هغۀ اووۀ زامن او درې لوڼه هم وې. ۱۴ هغۀ په وړومبۍ
لور باندې يميمه، په دويمه قصياه او په دريمه باندې
قرنهپوک نوم کېښودو. ۱۵ او په هغه ټول مُلک کښې د
ايُوب د لوڼو په شان ښائسته ښځې نۀ وې، خپل پلار هغوئ له

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دوئ د ورونړو په شان ميراث ورکړو. ۱۶ اِيُوب د دې نه
پس يو سل او څلوېښت کاله ژوندے وو او د څلورم نسل
پورې خپل بچى او نمسى يې وليدل. ۱۷ نو بيا اِيُوب په پوخ
عُمر کښې مړ شو.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.